د افغانستان اسلامي امارت

د عامې روغتيا وزارت

د پاليسي او روغتيايي پراختيا معينيت

د پلان او پاليسي عمومې رياست

د پاليسي د پراختيا آمريت

# د روغتيا ملي پاليسي

## ۱۴۴۶ – ۱۴۵۱

۱۴۴۶ هـ.ق

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

**د عامې روغتيا وزارت مقام پيغام**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

له متعال ذات څخه شکر ادا کوم چې موږ يې په څمکه اشرف المخلوقات پيدا کړي يو. درود او سلام دې وي پر رسول الله صلی الله عليه وسلم، د هغه پر کورنۍ او صحابه کرامو باندې. الله رب العزت په قران کريم کې فرمايي:

وَمَن أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا(سوره المائده، آيه ۳۲) او څوک چې يو ژوند وژغوري لکه چې ټول انسانان يې ژغورلي وي. همداراز الله تعالی فرمايلي "يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا" (سوره بقره، آيه ۱۶۸) و کما قال الله تعالی: "إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ" (سوره بقره، آيه ۲۲۲) او همدارنګه الله تعالي فرمايلي دي: "وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا" (سوره اعراف، آيه ۳۱)

"اې خلکو په څمکه ټول هغه څه وخورئ چې حلال او پاک دي" (سوره البقره، ۱۶۸) او الله تعالی فرمايي: "بيشکه چې الله تعالي پاکوالی او پاک خلک خوښوي" (سورت البقره، ۲۲۲) او همدارنګه الله تعالی فرمايلي دي: وخورئ، وڅښئ او اسراف مه کوئ (سوره اعراف، ۳۱)

ګرانو هېوادوالو د اسلامي امارت له بريالیتوب او په هېواد کې د اشغال له پای ته رسېدو وروسته اوس د پرمختګ وخت دی. له همدې کبله افغانستان د يو خپلواک او پرمختللي هيواد په توګه د تاريخ په يو ځانګړي پړاو کې دی چې د اسلامي امارت او ملت لپاره خورا برخليک ټاکونکی او پرېکنده دی. دا مهم پړاو په ټولو سکتورونو کې، په ځانګړې توګه د روغتيا په برخه کې جدي هڅو، نړيوالتوب او همغږۍ ته اړتيا لري، ترڅو موږ د هر اړخيزو روغتيايي نمونو او شاخصونو (نغوتاندونو) سره دوامداره پرمختګ وکړو. له همدې کبله د پرمختيا او بريالیتوب يو له بنسټيزو ستنو څخه چې د يوې اداري لپاره اړين دي، د هر اړخيزو پاليسيو او ستراتيژيو شتون دی.
له همدې کبله د پرودګار په فضل او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله په لارښوونه د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزارت د ګرانو هيوادوالو د روغتيا د ښه والي په موخه په ډېر وياړ سره د روغتيا ملي پالیسي ترتيب او د هيواد او ټولنې اړتياو سره سم روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي. د دې پاليسي موخه روغتيايي خدمتونو ته د عادلانه او اغېزمن لاسرسي باوري کول، د خدمتونو کيفيت ښه کول او د روغتيا په برخه کې د شته ورتياوو ساتنه او پياوړي کول دي.
د افغانستان اسلامي امارت عامې روغتيا وزارت ژمن دی چې د الله تعالی په نصرت او له شته ملي او نړيوالو سرچينو ته هر افغان د جغرافيايي موقعيت او ټولنيز وضعيت ته په کتو روغتيايي خدمتونه وړاندې کړي او لومړنيو، دوهمي (ثانوي) او دريمي (ثالثي) روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ولري. دا پاليسي زموږ د ژمنتيا استازيتوب کوي چې په اوسني روغتيايي سکتور کې د ژورو اصلاحاتو لامل به وګرځي او په اساس به يې د ټولنې خلکو ته د اړتيا وړ روغتيايي خدمتونه وړاندې شي. ترڅو د هرچا روغتيا باوري او روغتيايی خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې نيمګړتياوې کمې کړي.
د شته ننګونو په پام کې نيولو سره، دا پاليسي د روغتيا په برخه کې د ملي لومړيتوبونو او بيړنيو اړتياوو په نښه کولو لپاره د بشپړ لارښود په توګه جوړه شوې ده. موږ کورني او نړيوالو همکارانو، متخصصينو او ټولو اړوندو بنسټونو ته بلنه ورکوو چې د دې پاليسی په پلي کولو کې د عامې روغتيا وزارت سره همکاري وکړي.

**والسلام**

**مولوی نورجلال جلالي**

**د عامې روغتيا وزير**

## مخکنۍ خبرې

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

نحمدهُ وَنُصَلّي على رَسولِهِ الكَرِيمِ، أمّا بَعْدُ، قالَ اللّهُ تَعالی «فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ» (سوره الانعام آیه ۱۵۸)

الله تعالی په قرآنکریم کې فرمايي: [ای محمد ص] دا د الله رحمت وو چې ته خلکو ته نرمزړی شوې، که ته توند او سختزړی وای، خلک به له تا څخه تیت او پرک شوي وای. نو هغوی وبښه او د بښنې دعا ورته وکړه او له هغوی سره د چارو په اړه مشوره وکړه خو کله چې دې پرېکړه وکړه، پر الله توکل وکړه. یقینا چې الله توکل کوونکي خوښوي.

په پیل کې په ډېر وياړ او درنښت سره د روغتيا د ملي پالیسي مخینه خپلو ټولو ګرانو هیوادوالو او د روغتيا او طب په برخه کې ښکیلو کسانو ته وړاندې کوم.

دغه پالیسي په هیواد کې د روغتیایي خدمتونو، درملنې، درملیزو، خوراکي او روغتیايي توکو د ښه والي لپاره د یو لارښود په توګه د عامې روغتيا وزارت، امارتي او نړیوالو بنسټونو او تخنیکي کمیټې د ګډې همکارۍ پایله ده، چې د افغانستان د اسلامي امارت د عامې روغتيا په سیستم کې د شته ننګونو لپاره د اغیزمنو او مناسبو حل لارو د برابرولو هڅې کوي.

د دې پالیسي د ترتیب په مختلفو پړاوونو کې زموږ همکاران د عامې روغتيا په وزارت کې د قوي ارادې، ژمنتیا او د هیواد د بیړنیو او اوږدمهاله اړتیاوو په اړه ژور درک سره توانیدلي دي چې موخو ته د رسیدو لپاره یوه بشپړه او متوازنه پالیسي جوړه کړي. دا پالیسي له یوې خوا د روغتيا په برخه کې بنسټیزې ستونزې په ګوته کوي او له بلې خوا یې په خپل ستراتیژیک لید سره په هیواد کې د پام وړ پرمختګ لپاره د اساسي حل لارو وړاندوینه کوي.

د اسلامي امارت د عامې روغتيا وزارت سرپرست ښاغلي مولوي نور جلال جلالي څخه چې په خپلې پیاوړې مشرۍ او نه ستړې کیدونکو هڅو سره یې د دې پالیسي د بشپړولو پروسه وځارله او همدا رنګه د پالیسي د پراختیا د رهبرۍ، فرعي او تخنیکي کمیټو محترمو غړو څخه چې په پراخه کچه یې په تحلیل او ترتیب کې علمي نظرونه او د دې پالیسي په چمتو کولو کې مرسته کړیده د زړه له کومې مننه کوم.

دا پالیسي چې د هیواد د ځانګړو شرایطو او زموږ د خلکو د لومړنیو اړتیاوو سره سم جوړه شوې ده، د روغتيا په برخه کې د پالیسي جوړونکو، اجرايوي چارواکو، پلان جوړونکو او نورو ټولو روغتیايي کړنو لپاره د لارښود په توګه کارول کیږي. د دې پالیسي اغیزمن تطبیق په ځانګړې توګه د روغتیايي خدمتونو په ښه کولو د لومړني روغتيا پاملرنې سیستم پیاوړتیا، او د روغتيا زیربناوو پراختیا کې اړین دی.

زه غواړم چې یو ځل بیا له ټولو همکارانو، متخصصینو او بنسټونو څخه مننه وکړم چې پدې برخه کې یې همکاري کړې ده او هیله لرم چې د دې پالیسي په پلي کیدو سره به د هیواد په روغتیايي سکتور کې د پام وړ پرمختګونه ولرو.

درنښت

الحاج ډاکټر محمد حسن غیاثي

د عامې روغتيا وزارت د پالیسي او روغتیايي پراختیا معین

## د منني څرګندونه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

نحمدهُ وَنُصَلّي على رَسولِهِ الكَرِيمِ، أمّا بَعْدُ، قالَ رَسولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزارت سرپرست عالیقدر ښاغلی مولوي نورجلال جلالي او د عامې روغتيا وزارت د پالیسي او روغتیايي پراختیا ښاغلي معين ډاکټر محمد حسن غياثي، د پالیسی جوړونې د رهبری، تخنيکي او فرعي کميټو غړو، ټولو همکارانو او لوستونکو! السلام علیکم و رحمته الله و برکاته!

په هيواد کې د روغتیا، درملنې، درملو، خوراکي توکو، محصولاتو او طبي تکنالوژۍ د وضعيت د ښه والي په موخه د يو مهم سند په توګه د دې پالیسي ترتیب چې په دې برخه کې د اړوندو متخصيصينو، امارتي او غیر امارتي ادارو د ګډو هڅو پایله ده، د عامې روغتيا وزارت د پلان او پالیسی عمومي رياست په استازیتوب په ډیر وياړ او منني سره د عامې روغتیا د ملي پالیسی په بشپړولو کې له ټولو ښکیلو خواوو څخه منښه او قدرداني کوم.

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت عالیقدر ښاغلي مولوي نورجلال جلالي، چې د دې پروسې په ټولو پړاوونو کې یې د خپلې اغیزمنې مشرۍ، قوي ملاتړ او ارزښتناکو لارښوونو سره د دې پروسې د پرمختګ او بشپړیدو لپاره زمينه برابره کړه او همدارنګه د پالیسي او روغتیايي پراختیا ښاغلي معين صاحب د دوامدارو هڅو او استقامت څخه چې تل یې د کارونو په همغږۍ او دقيقه څارنه کې حضور درلود، د ستاینې وړ دي او منښه ورڅخه کوم.

د پالیسي د پراختیا رهبري کميټې د روغتیايي پراختیا او پالیسي محترم معين ډاکټر محمد حسن غياثي په مشرۍ او د پلان او پالیسي د عمومي رئیس محترم پوهندوی دوکتور میرویس احمدزی د معاونیت تر چتر لاندې د کميټې له محترمو غړو (ډاکټر محمد عظیم زمريال کاکړ، ډاکټر زاهد الله رسولي، ډاکټر مبارک شاه مبارک، ډاکټر حیدر عمر، ډاکټر وحدت الکوزي، ډاکټر حیدر خان حیدر، ډاکټر فضل الهي علیزي، ډاکټر احمد سير پاخون، ډاکټر احمد ناصر حنيفي، ډاکټر عبدالستار صحت، ډاکټر عبدالوحيد عربزاد، ډاکټر سید رسول منګل او ډاکټر محمد نعيم آبی) چې دا پالیسي یې په خپل ستراتیژیک لید، ژورې پوهې او پراخې تجربې سره پای ته ورسوله ډیره منښه کوم. همدارنګه د فرعي کميټو غړو او د تخنيکي کميټې (د روغتیا تمويل او اقتصاد رياست پخوانی رئیس محترم ډاکټر سيد رسول منګل، محترم ډاکټر عبدالعظيم احمدزي، محترم محمد ايمل قيامي، محترم ډاکټر هدايت الله حميدي، محترم استاد مصطفي، محترم سيد فريد هاشمي، محترم ډاکټر صديق الله رشتين، محترم لطف الله ننګيال سهاک، محترم سيد ولي صافي او محترم شفيق الله کوچي) له ټولو غړو څخه چې د معلوماتو په تفصيلي بياکتنې، علمي تحليل او د تخنيکي او عملي مشورو په وړاندې کولو کې يې مهم رول لوبولی د زړه له کومې منښه کوم. د دې کميټو له همکارۍ او همغږۍ پرته به د يوه هر اړخيز سند ترتیبول ممکن نه وو. همدارنګه له ټولو هغو کارپوهانو، مشاورينو او کارکوونکو څخه چې په دې بهير کې يې په پوره ژمنتيا او انګيزې سره همکاري کړې او د معلوماتو، شننو او وړانديزونو په راغونډولو کې يې رغنده رول لوبولی د زړه له کومې منښه کوم.

موږ باوري یو چې د دې پالیسي په پلې کېدو سره به په هېواد کې د روغتیايي خدمتونو او د عامې روغتیا وضعيت د ښه والي لپاره اغېزمن ګامونه پورته شي او دا مهمه لاسته راوړنه د ټولو اړوندو اشخاصو او بنسټونو د ګډو هڅو پايله ده. دا د عامې روغتيا ملي پالیسي نه یوازې د هیواد د روغتیا پالیسي لارښودني لپاره يو مهم سند دی، بلکه دا به د روغتیا او درملنې سکتور، درملو، خوراکي توکو، محصولاتو او طبي ټیکنالوژۍ کې د راتلونکو اصلاحاتو او پرمختګونو لپاره د سرچينې په توګه کار وکړي. د پالیسی او پلان عمومي رياست له ټولو محترمو همکارانو څخه ځانګړې منښه کوي چې د دوی له همکارۍ او مرستې پرته د دې پالیسی بريا او نهایي کېدل ناشوني وو.

درنښت

پوهندوی ډاکټر میرویس احمدزی

د عامې روغتیا وزارت د پلان او پالیسي عمومي رئیس

## لړلیک

**عنوان** **پاڼه**

۱. سریزه ........................................ ۱
د لنډیزونه لست ........................................ ۳
۲. د افغانستان لنډه پېژندنه ........................................ ٤
۳. د افغانستان روغتیايي انځور مهم ټکي ........................................ ٤
۴. د عامې روغتیا وزارت پېژندنه ........................................ ٥
۵. د پالیسي اړونده برخې، موخې او بنسټیزې کړنې ........................................ ۸
۵/۱. حکومتولي او رهبري ساحه ........................................ ۸
۵/۲. د کارکوونکو چارو ساحه ........................................ ۱۱
۵/۳. د روغتیايي سکتور تمویل ساحه ........................................ ۱۳
۵/۴. د روغتیايي چوپړتیاوو وړاندې کولو ساحه ........................................ ۱٤
۵/۵. د خوړو، درملو او روغتیايي محصولاتو ساحه ........................................ ۲۱
۵/۶. د روغتیايي معلوماتو سیستم ساحه ........................................ ۲۳
۵/۷ د مالي تمویلونکو او کاري شریکانو د ښکیلتیا ساحه ........................................ ۲٥
۶. پلي کېدنه ........................................ ۲٥
۷. څارنه، ارزونه او بیاکتنه ........................................ ۲٦
۸. ملپاڼه ........................................ ۲٦

## ۱ سریزه:

د افغانستان اسلامي امارت بریا او له بهرني اشغال څخه د هېواد ازادي اخیستلو وروسته د اسلامي امارت مشرتابه له هدایت سره سم او د خلکو اوسني روغتیایي وضعیت ته په کتو دپنځو کلونو (۱۴۴۶ – ۱۴۵۱) لپاره د روغتیا ملي پالیسي جوړه کړې ده.

عامې روغتیا وزارت به د نوموړي پالیسي په مټ د روغتیایي چوپړتیاوو په ځانګړي توګه د لومړنیو روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو لپاره اړین ګامونه پورته کړي.

دا چې په تېرو دريو کلونو کې د ډېرو لاملونو له کبله د مړيني کچه کمه شوې او روغتيايي پاملرنو ته لاسرسی ډېر شوی دی. اوسمهال زیاتره افغانان له روغتیایي مرکز څخه په مناسبه فاصله کې ژوند کوي. همدارنګه د ولایتونو عامې روغتیا ریاستونو او روغتیایي مرکزونو ونډې ته د بنسټیزو روغتیایي چوپړتیاوو او روغتونیزو (کلینکي) خدمتونو وړاندې کولو ته پراختیا ورکړل شوې ده.

دا پالیسي د افغانستان د خلکو روغتیایي اړتیاوې او د روغتیایي سیستم اصلاحاتو په اړه د عامې روغتیا وزارت لیدلوری او نظر څرګندوي او دا روښانه کوي چې دهیواد ټول وګړي ښه کیفیت لرونکو بنسټیزو روغتیایي خدمتونو ته لاسرسي ولري. همدارنګه یاده پالیسي تولنیزو ګروپونو او روغتیا اړوند ټاکونکو اساسي ټولنیزو لاملونو پېژندنې ته د اصلي لومړیتوب په توګه تحقق ورکوي.

دا پالیسي د یوې پراخې او مشارکتي پروسې له لارې د عامې روغتیا وزارت، نړیوالو پراختیایي شریکانو، پلي کونکو مؤسسو او خصوصي سکتور څخه د خپرو شوو کره معلوماتو او ارقامو پر بنسټ چمتو شوې ده او لاندې اوه بنسټیزې ساحې لري.

د حکومتولۍ او رهبرۍ ساحه، د کارکوونکو چارو ساحه، د روغتیا سکتور د تمویل ساحه، د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ساحه، د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو ساحه، د روغتیایي معلوماتو اړوندو سیستمونو ساحه او د مالي تمویلونکو او کاري شریکانو د ښکیلتیا ساحه.

د پورته هرې ساحې لپاره د پالیسي یوه موخه تعریف شوې او د هرې کړنې لپاره بنسټیزې لارښوونې ټاکل شوي دي.

د دې پالیسي د پلي کولو په پایله کې به د عامې روغتیا وزارت او ولایتي ریاستونو د مسؤلینو ظرفیتونه به د بنسټیز بدلون له لارې پیاوړی شي. د اسلامي شریعت قوانینو رعایتول، د قانون حاکمیت، انساني حقونه او عادلانه اصولو ته درناوی کول به د روغتیایي سیستم په ټولو کچو کې بنسټیز شي او د وزارتونو، امارتي ادارو او نړیوالو پراختیایي شریکانو سره به همکاري دوام ومومي او همدارنګه به د روغتیایي خدمتونو کیفیت او خوندیتوب د داخلي څارنې او ارزونې ظرفیتونه به ښه شي. د کارکوونکو وده او پراختیا به د خپلې ټولنې د روغتیایي اړتیاوو او ناروغیو لپاره ځواب ویونکی وي. د اړتیا له مخې به له خدمت څخه مخکې او داخل خدمت اړونده زده کړې د ورتیا پر بنسټ او کیفیت محوره وي چې موخه یې نړیوالو معیارونو ته رسېدل دي. د منځنیو طبي زده کړو په شمول د طب مسلک تخصصي ودې ته ځانګړې پاملرنه د روغتیایي متخصصینو د واک ساتنه به د معتبرو جوازونو د ورکړې له لارې تضمین شي، د رغنده انګیزې او روحیې د لا زیاتوالي لامل به وګرځي. همدارنګه د روغتیایي متخصصینو ځان بسیاینه او له بهرمیشتو افغان طبي ډاکټرانو ټولنې سره د اړیکو وده او پیاوړتیا به لا غښتلې شي. د بیلابیلو مالي سرچینو له لارې د روغتیا مالي تمویل، د عامې روغتیا اړوندو روغتیایي مرکزونو کې د عملیاتي پیاوړتیا وده او د عوایدو راغونډولو میکانیزمونه به لا پیاوړي شي. د اسلامي امارت لخوا د روغتیا سکتور ته د ځانګړې بودیجې په پام کې نیولو او دهغو لګښتونو لپاره د خاص، ګټور او خوندي میکانیزمونو ته پاملرنه وشي.

نوموړي پالیسي به راتلونکي نسلونو ته د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو اړونده اصلاحاتو لېږد وکړي. همدارنګه به د بنسټیزو روغتیايي خدمتونو مدغم شوې ټولګې(BPHS & EPHS) له بیا کتنې څخه وروسته وروپېژندل شي. د روغتیايي خدمتونو وړاندې کوونکو خپلواکي، د قراردادونو اړوندو لارو چارو روڼتیا، پراختیا او د لګښتونو اجرا کول به د نویو میکانیزمونو په بنسټ ترسره کېږي.

د ساري او غیر ساري ناروغیو کنټرول او بالخصوص د ماشومانو د ګوزڼ ناروغي له منځه وړل د دې پالیسی له مهمو موخو څخه ده. د مختلفو سکتورنو اړوندو کړنو له لارې به د عامې روغتیا وزارت اساسي لومړیتوبونه ارزول کېږي او ناوړینونو او لویو پېښو ته د غبرګون وړتیا به پیاوړې کېږي.

د اړوندو قوانینو او مقرراتو د پلي کېدو او معیارونو د کارولو له لارې به د خوړو، درملو،روغتیايي محصولاتو او طبي تکنالوژۍ شتون او ورته د لاسرسي وړتیا به لا زیاته شي.

د روغتیايي معلوماتو سیستمونو پراختیا او د شواهدو پر بنسټ پریکړې کول به د روغتیايي سیستم په ټولو کچو کې پلی شی او د یو بنسټیز شکل به پایښت پیدا کړي. د روغتیايي خدمتونو له ترلاسه کوونکو سره به مستقیمه اړیکه لا پیاوړې شي. د دی پالیسی تمرکز به په ټولو افغانانو باندې یو رنګه وي، نه یوازې هغو کسانو ته چې د ځانګړو ناروغیو پر وړاندې زیانمن دي بلکې د روغتیايي لاملونو کنټرول لپاره د خلکو ټولنیز پوهاوی لوړول او د وګړو او ټولنې په کچه د روغتیايي شریکانو کړنې همغږې کوي.

## د لنډیزونو لست

| | |
|---|---|
| AMR | Anti-Microbial Resistance |
| ADR | Adverse Drug Reaction |
| ASP | Antimicrobial Stewardship Program |
| BPHS | Basic Package of Health Services |
| CHW | Community Health Worker |
| DMC | Disaster Management Committee |
| EMR | Electronic Medical Record |
| EPHS | Essential Package of Hospital Services |
| EPI | Expanded program of Immunization |
| GH | General Hospital |
| HDU | High Dependency Unit |
| HMIS | Health Management Information System |
| IRB | Institutional Review Board |
| IP | Infection Prevention |
| MHPSS | Mental Health & Psychosocial Support Services |
| MoPH | Ministry of Public Health |
| NTDs | Neglected Tropical Diseases |
| OOP | Out of Pocket |
| PHC | Primary Health care |
| PPP | Public Private Partnership |
| RFP | Request for Proposal |
| RMNCAH | Reproductive, Maternal, Newborn, Child and Adolescent Health |
| RUSF | Ready-to-Use Supplementary Food |
| RUTF | Ready-to-Use Therapeutic Food |
| SDGs | Sustainable Development Goals |
| STDs | Sexual Transmitted Diseases |
| UHC | Universal Health Coverage |

## ۲ د افغانستان لنډه پېژندنه:

### ۲،۱ نفوس او جغرافیايي موقعیت:

افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا تر منځ پروت هېواد دی چې ختیځ او جنوب لوري ته یې د پاکستان هېواد لویدیځ ته یې ایران، شمال ختیځ لوري ته یې چین او شمال ته یې ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان هېوادونه پراته دي.
افغانستان (۶۵۲۸۶۴)کیلومتره مربع مساحت لری او د هېواد د ټولو وګړو شمېر په ۱۴۰۳ کال کې پنځه دیرش اعشاریه اوه (۳۵،۷)میلیون تنه اټکل شوی دی چې له دې ډلې څخه اتلس اعشاریه دوه (۱۸،۲)میلیون تنه(یو پنځوس ۵۱،۰ سلنه )نارینه او اوو لس اعشاریه پنځه(۱۷،۵) میلیون تنه ( نهه څلویښت ۴۹،۰ سلنه )ښځینه وګړي جوړوي، چې له بیلابلو قومونو څخه جوړ دی لکه پښتانه، تاجک، هزاره، ازبک، بلوچ، ترکمن، نورستاني، پامیري، عرب، ګوجر، براهوي، قزلباش، ایماق، پشه یي او داسې نور. د افغانستان رسمي ژبې پښتو او دری دي.

### ۲،۲ بشري پراختیا:

افغانستان په ۲۰۲۰کال کې د بشري پراختیا اړوندو برخو درجه بندي کې د یو سلو او دوه نوي (۱۹۲) هېوادونو تر منځ په یو سلو دوه اتیا(۱۸۲)درجه کې قرار درلود. د زېږون له وخته په نارینه وو کې د ژوندي پاتې کېدو تمه دري شپیته اعشاریه اته (۶۳،۸) کاله او د ښځینه وو تر منځ شپږ شپیته اعشاریه اوه (۶۶،۷)کاله اټکل شوې وه..

## ۳ د افغانستان د روغتیايي انځور مهم ټکي

### ۳،۱ د عامې روغتیا شاخصونه:

د زېږون په وخت د نارینه وو او ښځینه وو د ژوند تمه په ۲۰۰۰ زېږدیز کال کې له ۵۶ کلونو څخه په ۲۰۲۴کال کې پنځه شپیته اعشاریه دري (۶۵،۳)کلونو ته لوړه شوې ده، چې لامل یې هم د ماشومانو د مړینې کمېدل دي، د میندو د مړینې کچه په هرو سل زرو (۱۰۰۰۰۰) ژوندیو پنځه لس (۱۵) کلونو زېږونونو کې شپږ سوه او شل (۶۲۰) تنه، د نویو زېږېدلو ماشومانو د مړینې کچه په هرو زرو (۱۰۰۰) تنو ژوندیو زېږونونو کې در ویشت (۲۳) تنه، د یو کلنۍ شکته د مړینې کچه پر هر زرو (۱۰۰۰) تنو ژوندیو ماشومانو کې یو څلویښت (۴۱)تنه او په هرو زرو (۱۰۰۰) تنو ژوندیو زېږونونو کې له ۵ کلونو څخه د لږ عمر لرونکو ماشومانو د مړینې کچه پنځوس (۵۰)اټکل شوې ده. د نفوسو د ودې کچه په کال کې دوه اعشاریه څوارلس (۲،۱۴)سلنه او د میندواری عمومي کچه پنځه اعشاریه دري (۵،۳)اټکل شوې ده.
په کلیوالو، لږ تعلیم لرونکو او کم عاید لرونکو سیمو کې د ډېر عمر لرونکو خلکو ترمنځ د ژوند تمې لرلو په برخه کې توپیرونه نا انډولتیا شته او په افغانستان کې د اوږدو جګړو، ټیټې کچې اقتصادي وضعیت او د روغتیايي سیستم کمې وړتیا له کبله روغتیايي شاخصونه د ډیری پرمختللو هېوادونو په پرتله په ناسم حالت کې دي.

### ۳،۲ په افغانستان کې د مړینې مهم لاملونه

۱. د زړه او رګونو ناروغي،

۲. د ولادې او نویو زیږیدلو ماشومانو ناروغۍ،

۳. تنفسي ناروغۍ او توبرکلوز،

۴. سرطاني ناروغۍ،

۵. غیر ساري ناروغۍ،

۶. ساري ناروغۍ،

۷. د شکر او پښتورګو ناروغۍ،

۸. تېپونه،

۹. ترافيکي پيښې،

۱۰. د کولمو انتاني ناروغۍ.

### ۳,۳ روغتيايي مرکزونه

روغتيايي خدمتونه د ۴۰۹۶ څخه ډېرو روغتيايي مرکزونو لخوا وړاندې کېږي لکه ګرځنده روغتيايي او تغذي ټيمونه، روغتيايي خالې، فرعي، بنسټيز او بشپړ روغتيايي مرکزونو، ولسواليو، ولايتي، حوزوي، تخصصي او ملي روغتونونه او همدارز له ۱۶۳۰۶ څخه زياتو روغتيايي پوستو لخوا چې د ټولنې په کچه لومړني روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي.

په منځنۍ کچه د هرو لسو زرو (۱۰۰۰۰) کسانو لپاره يو اعشاريه پنځه لس (۱،۱۵) لومړنی روغتيايي مرکز او د هرو لسو زرو (۱۰۰۰۰) کسانو لپاره صفر اعشاريه صفر پنځه څلويښت روغتون شتون لري. د نفوس لپاره د ځېرېناوو نومورې شمېرې د سيمې په کچه تر ټولو ټيټ نسبت دی. روغتيايي خدمتونو ته د رسېدلو تر ټولو لوړه کچه په نورستان کې ثبت شوې، چې د څلور زره او سلو (۴۱۰۰ )کسانو لپاره لومړنی روغتيايي مرکز او د درې پنځوس زرو (۵۳۰۰۰) کسانو لپاره روغتون شتون لري. دغه راز روغتيايي خدمتونو ته د رسېدلو تر ټولو ټيټه کچه په کندهار ولايت کې ثبت شوې، چې د روغتيايي خدمتونو هر لومړنی مرکز د شل زره او څلور سوو (۲۰۴۰۰) کسانو او روغتون د شپږ لکه او اتيا زرو (۶۸۰۰۰۰) کسانو لپاره خدمتونه وړاندې کوي. په سپينو سيمو نومول شويو برخو کې د روغتيايي خدمتونو کچه د پانګونې نه شتون له کبله د لاسرسي وړ نه ده.

### ۳,٤ کارکوونکي

په ۲۰۲۴ زېږديز کال کې د ډاکټرانو، نرسانو او قابلو شمېر په هرو لس زرو(۱۰۰۰۰) کسانو کې لس اعشاريه درې (۱۰،۳)کسانو ته رسېدو چې نومورې شمېر د دوامداره پراختيا اړوندو موخو ته د رسېدو لپاره د وړاندېز شوې شمېرې د نړيوالو معيارونو يعني په هرو لس زرو(۱۰۰۰۰) کسانو کې څلور ديرش اعشاريه دوه (۳۴،۲)کسانو څخه کمې دي او د روغتيا عمومي پوښښ ته د لاسرسي لپاره ترخپل حده وړانديز شوي شمېرې يعني په هرو لس زرو(۱۰۰۰۰)کسانو کې څلور څلويښت اعشاريه پنځه (۴۴،۵) مواردو څخه ډېره ټيټه ده، يواځې پنځلس (۱۵) سلنه نرسان او دوه (۲)سلنه ډاکټران ښځې دي.

### ۳,٥ د روغتيا تمويل

په ۲۰۲۲ زېږديز کال کې د افغانستان ټول روغتيايي لګښتونه درې اعشاريه شپږ (۳،۶) ميليارده ډالر يا په کال کې تقريبا د هر کس لپاره يو سلو دوه (۱۰۲) ډالره ارزول شوي وو. له دې ډلې څخه د دولت برخه يوه (۱) سلنه، بهرني مرستې يو ويشت (۲۱) سلنه او د خلکو له لوري شخصي لګښتونه اوه اتيا (۷۸) سلنه دي. د خلکو شخصي لګښتونو لويه برخه د پنځه سوه نهه ويشت (۵۲۹) خصوصي روغتونونو، دوه سوه شپيته (۲۶۰) خصوصي سراپا کلينيکونو او ګڼ شمېر خصوصي مؤسسو لخوا لګول کېږي.

## ٤ د عامې روغتيا وزارت پېژندنه

د عامې روغتيا وزارت د خپلې رهبرۍ رول پر اساس د نورو اړوندو امارتي، ملي او نړيوالو شريکانو په همغږۍ په هيواد کې د روغتيا او تغذي د پاليسيو- ستراتيژيو ودې، د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو او څارنې مسئوليت په غاړه لري.

د پورته موخو د پلي کيدو په موخه د عامې روغتيا وزارت مرکزي او ولايتي دفترونو له لارې د مؤثرو او مثمرو روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي په موخه نه ستړي کيدونکي هلې ځلې کوي.

### ٤,١ د عامې روغتيا وزارت لرليد

د افغانستان ټول اوسيدونکي به په هیواد کې د ننه په ملي او نړيوالو روغتيايي معيارونو برابر، دلاسرسي وړ، دوامداره او پیرونځواک سره سم له روغتيايي چوپړتیاوو او توکو څخه برخمن وي او په روغتيا سمباله ټولنه به ولري.

### ٤,٢ د عامې روغتيا وزارت ماموریت

د افغانستان د عامې روغتيا وزارت د روغتيا ښه کولو، د ناروغيو او مړینو کمولو، روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي زیاتولو او د ټولو افغانانو د هوسایني په موخه روغتيايي ژوند طرز ته د ودې ورکولو مسئولیت لري او د ملي روغتيايي لومړیتوبونو په رڼا کې د پایښت لرونکو پراختیايي موخو ترلاسه کولو او د کورنیو لخوا د لوړو روغتيايي لګښتونو د کمولو لپاره ګامونه اخلي. یادې موخې د سیاسي ارادې، پیاوړې رهبرۍ او ښې حکومتولۍ تر چتر لاندې د روغتيايي سکتور د ښکیلو لورو سره د همکارۍ او د سرچینو ګټور مدیریت له لارې تحقق مومي.

### ٤,٣ موخې

د هیواد ټولو وګړو ته په مناسبه او ارزانه توګه د کیفیت لرونکي روغتيايي چوپړتیاوو برابرول، خوړو، درملو، روغتيايي محصولاتو رسونه، روغتيايي حقونه تأمینول، د فقر کمول، د ورکړې وړ، عادلانه او مساوي لاسرسي چمتو کول او د پایښت لرونکي روغتيايي سیستم پیاوړتیا ترلاسه کول چې په هیواد کې د روغتيا او تغذي وضعیت ښه والي لامل وګرځي.

### ٤,٤ بنسټیز ارزښتونه

**عدالت:** هر افغان ته د روغتيايي چوپړتیاوو وړاندې کولو سره د هغوی روغتيايي اړتیاوو ته له ځواب وینې څخه ډاډ ترلاسه کول.

**رښتينولي:** په رښتينولۍ او مخلصانه توګه کار کول.

**طبي اخلاق:** طبي اخلاقو، ټولنیزو حقونو او مساواتو اصلي ارزښتونو ته درناوی کول.

**وقار او درناوی:** هر چاته ارزښت ورکول او د هر چا وقار او درناوی، پرته له جنسي، سني، مذهبي، ټولنیز - اقتصادي او سیاسي وضعیت په پام کې نیول.

**مؤثریت او مثمریت:** د ټاکل شوو موخو له لاسته راوړلو څخه ډاډ ترلاسه کول او همدارنګه د کمو سرچینو په کارونې سره یادو موخو ته رسیدل.

**کیفیت:** ډاډ ترلاسه کول چې هر افغان ته کیفیت لرونکي روغتيايي چوپړتیاوې، خواړه، درمل او نور روغتيايي توکي په سمه توګه وړاندې کیږي چې د هغوی روغتيايي اړتیاوو ته ځواب ویونکي وي.

**ناروغ محوره خدمتونه:** روغتيايي کارکوونکي باید د ناروغ او د هغه د کورنۍ وقار او درناوي په پام کې ونیسي، ناروغ له هر څه خبر او اړینه لارښوونه ورته وکړي، هغه سره مرسته وکړي او هغه د درملنې په هکله په ټولو پریکړو کې ښکیل کړي.

**ځواب ویونکي خدمتونه:** باور لرو چې په هیواد کې دننه د ټولو تخصصي او فوق تخصصي خدمتونو په وړاندې کولو سره به روغتيا وده ومومي او په ټولنه کې به د مړینې او فقر کمولو په لور یو مثبت ګام وي.

**پایښت:** باوري یو چې د هیواد روغتيايي سیستم باید د مالي او زیربنا له پلوه پایښت لرونکی وي ترڅو د روغتيايي چوپړتیاوو وړاندې کولو په اړه د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ووایي.

**حساب ورکونه:** باور لرو چې د روغتیایي سیستم په اړه باید ګټه اخیستونکو سره معلومات شریک شي او د سیستم موخې ته د رسیدو لپاره ځان د پایلو مسؤول وګڼو.

**روڼتیا:** د روغتیایي برنامو او بودجې اړوند معلوماتو شتون او لاسرسی هر چاته شوني کول او روغتیایي ستونزو اړوند تصمیم نیول. د ځیني پروسو لپاره ځانګړي معیارونه په نښه او پلټنه يې کول لکه د وړاندیز غوښتنې(RFP) پروسې له لارې د قراردادیانو غوره کول.

**همغږي او همکاري:** د روغتیا سیستم کاري شریکانو په همغږۍ او مرسته د کیفیت لرونکو چوپړتیاوو له وړاندې کولو ډاډ ترلاسه کول او غوره کاري فرصتونو رامنځته کول.

### د شواهدو پر بنسټ پریکړه

د پالیسیو، برنامو، پروژو او کړنو په هکله باید پریکړې د شواهدو (د څېړنو، سروې ګانو، د معلوماتو سیستمونو، تجربو او مشاهدو) د کارونې پر بنسټ ولاړې وي چې دا به موږ سره مرسته وکړي چې مداخلې اغېزمنې شي، د پام وړ خلکو ته خدمتونه ورسېږي او کړنو ته له شته سرچینو سره سمون ورکړل شي.

**د ورکړې وړتیـــــــه:** باور لرو چې د چوپړتیاوو وړاندې کول باید د ورکړې وړ بیه ولري ترڅو د سیستم ادامه د هیواد له واقعیتونو او د سیستم پایښت سره سمون ولري.

**نوښتونه:** باور لرو چې نوښتونه زموږ د راتلونکې بریا لامل ګرځي او د روغتیایي چوپړتیاوو د کیفیت ښه کولو لپاره د نویو نظرونو، میتودونو یا اختراع ګانو وپېژندل ارزښتمن دي.

**ټولګډونوالی او بې توپیرتیا:** ټولو وګړو ته له هر ډول توپیر پرته د هغوی له اړتیا سره سم روغتیایي چوپړتیاوې وړاندې کول.

**ژمنتیا او مسلکیتوب:** کوښښ کوو چې خلکو ته په غوره توګه روغتیایي خدمتونه وړاندې کړو او تر ټولو ژمن، وړ او تجربه لرونکی کارکوونکي لټوو او ګمارو.

**د منلو او پلي کیدو وړ:** ژمن یو چې د چوپړتیاوو وړاندې کول باید د خلکو لپاره د منلو او پلي کیدو وړ وي او د ټولنې له کلتور، ارزښتونو او مذهب سره سمون ولري او له سیاسی مداخلې څخه پاک وي.

**د پایلو پر بنسټ سیستم:** باور لرو چې د روغتیایي مداخلو متوقع پایلې باید په منظمه توګه اندازه شي ترڅو وروستي پایلې ترلاسه شي.

### ٤,٥ د پالیسي موخه:

د روغتیا ملي پالیسي ۱۴۴۶ – ۱۴۵۱ د عامې روغتیا وزارت، خصوصي سکتور، ملي او نړیوالو کاري شریکانو سره په همغږۍ د ښې حکومتولۍ پر بنسټ د روغتیا سکتور تمویل او مالي سرچینو چمتو کولو د بهیر اصلاح، کارکوونکو، روغتیایي او تغذي چوپړتیاوو، د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو کیفیت ته وده ورکول او روغتیایي معلوماتو او څېړنو سیستم پیاوړي کول، پایښت لرونکي پرمختیایي (SDG) دویمې او دریمې موخې (۲. لوږه له منځه وړل، د خوړو خوندیتوب، او سمې تغذيې ته لاسرسي او پایښت لرونکي کرهنې ته وده ورکول. ۳. روغ ژوند تضمین او په هر عمر کې د ټولو لپاره هوسایني ته وده ورکول) سره سم روغتیایي اړتیاو ته په وخت او اغیزمنه توګه ځواب ویل او د ټولو افغانانو روغتیا ساتنه.

## ۵ د پالیسي اړونده ساحې، موخې او بنسټیزې کړنې

د روغتیا ملي پالیسي اوه اساسي ساحې لري:

۱. حکومتولي او رهبري،
۲. د کارکوونکو چارو،
۳. روغتیا مالي تمویل،
۴. روغتیایي چوپړتیاوو وړاندې کول،
۵. خواړه، درمل او روغتیایي محصولات،
۶. روغتیایي معلوماتو سیستم،
۷. مالي تمویلونکو او کاري شریکانو ښکیلتیا.

د پورته هرې ساحې لپاره د پالیسي یوه موخه تعریف شوې او د هر اقدام لپاره بنسټیزې لاربښوونې ټاکل شوي دي.

## ۵,۱ حکومتولي او رهبري ساحه

### ۵,۱,۱ د پالیسي موخه:

د عامې روغتیا وزارت په غښتلې رهبری او حکومتولۍ کې د نورو سکتورونو، ملي او نړیوالو کاري شریکانو، خصوصي سکتور او د ټولنو په همغږی ژمن دی چې د ټاکل شوو سرچینو اغیزمنه کټه د روغتیایي موخو لاسته راوړلو لپاره، روڼتیا او حساب ورکولو په منظور د اسلامي احکامو په رڼا کې روغتیایي چارې داسې سمبال کړي چې د ټولو رول معلوم، ټول وګړي روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ولري او د هیواد په کچه دخلکو د روغتیا په برخه کې مثبت تغیر رامنځته شي.

### ۵,۱,۲ بنسټیزې کړنې:

د روغتیایي سیستم په ټولو برخو کې ښه حکومتولي، ژمنه او باوري رهبري شتون لري، چې د اسلامی شریعت دینی احکام او روغتیا اړوند دایمي پراختیا او نورو موخو ته د رسېدو لامل ګرځي او د روغتیا عام پوښښ(UHC) لپاره د فرصتونو او بنسټ رامنځته کول به د عامې روغتیا وزارت اړوندو کړنو لپاره لاربښود وي. دا چې د دوامداره پراختیا دویمې،دریمې او اولسمې شمېرې (SDG – 02 & 03, 17) موخې ته رسېدل د نورو سکتورونو د دوامداره پراختیا نورو موخو لکه د بېوزلۍ کموالي، پوهنې او د خوړو خوندیتوب ته د رسېدو په پرمختګ پورې تړلې دي. د هیواد ټولو اتباعو د روغتیایي حقونو پیاوړتیا، د پاکو او ښاک اوبو برابرول، د دایمي غذایی انرژی، دهوسا ښاري ژوند او خو اړخیزه تګلاره به د عامې روغتیا وزارت په ټولو فعالیتونو کې وکارول شي.

۵,۱,۲,۱ د قانون حاکمیت څخه داډ ترلاسه کول (د خپلوۍ پاللو کمول، بې پرېتوب، د سیاسي مداخلې پرته، کاري ورتیا، صداقت، د کارکونکو درناوی او د توطیو او جعلي قضیو څخه د دوی ساتنه) روڼتیا، د فساد په وړاندې د زغم نه شتون او په روغتیایي سکتور کې حساب ورکولو اصل ته ارزښت ورکول او د کاري اصولو په توګه منل.

۵,۱,۲,۲ د عامې روغتیا وزارت تشکیلاتي جوړښت به مرور او اصلاح شي او د مرکز او ولایتونو په کچه به یې رول په مناسب

ډول تعریف شي، ترڅو مؤثریت تضمین شي.

۵٫۱٫۲٫۳ په ټولو پالیسیو کې د روغتیایي خدمتونو پېژندنه او پلي کول ترڅو د افغانستان خلکو لپاره غوره روغتیایي پایلې ترلاسه کړو. د عامې روغتیا وزارت په مرکزي او ولایتي کچه د حکومت لوړپوړې کچې په کډون په بېلابېلو برخو کې د مرستې او همغږۍ میکانیزم جوړول، د دولت په کچه په ټولو پالیسیو کې د روغتیایي خدمتونو مدغم کول.

۵٫۱٫۲٫٤ عامې روغتیا وزارت د اداري پراختیا اصل ته په کتو سره ارتقا ورکړل شي، پدې کې د رياستونو او مديريتونو په کچه د رئیسانو او مدیرانو د حکومتولۍ او رهبرۍ مهارتونو پیاوړي کول.

۵٫۱٫۲٫۵ روغتیایي خدمتونه چې د عامه او خصوصي روغتیایي بنسټونو لخوا وړاندې کېږي باید لږ تر لږه ټاکلي معیارونه پوره کړي.

۵٫۱٫۲٫٦ د افغانستان وګړو ته روغتیایي مالي لمړیتوبونه، د روغتیایي سکتور لپاره د مالي تنوع او د کورني سرچینو په همغږۍ شامل دي، ترڅو په بهرنیو سرچینو تکیه کمه کړي او د روغتیایي خدمتونو د پایښت لامل وګرځي.

۵٫۱٫۲٫۷ خلکو ته د امارت او مرستندویه مؤسساتو د مالي او بودیجوي سرچینو او د ټولني لخوا د مالي مرستو په تړاو روڼتیا او حساب ورکول.

۵٫۱٫۲٫۸ دوامداره معیاري طبي زده کړو ته پاملرنه ترڅو افغان معالجوي او عامې روغتیا تخنیکي متخصصین د نړۍ په کچه اعتبار پیداکړي او په منل شوو معیارونو سمبال وپېژندل شي.

۵٫۱٫۲٫۹ د روغتیا په سکتور کې باید د نښتونو لپاره ځای موجود وي.

۵٫۱٫۲٫۱۰ د عامې روغتیا وزارت به اړوند قوانین، مقررات، لایحې او طرزالعملونه ترتیب او تنظیم کړي. د روغتیایي قوانینو د پلی کولو دنده د عامې روغتیا وزارت په غاړه ده.

۵٫۱٫۲٫۱۱ عامې روغتیا وزارت به د روغتیا اړوند چارو څارنه او ارزونه کوي.

۵٫۱٫۲٫۱۲ د عامې روغتیا وزارت به د عدالت (Equity) د اصل په نظر کې نیولو سره په ټول هیواد کې د روغتیایي سرچینو په ویش او همدارنګه د روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو کې جدیت ترسره کړي.

۵٫۱٫۲٫۱۳ عامې روغتیا وزارت به د روغتیایي سیستم د لومړیتوبونو په اساس د هیواد په کچه د روغتیایي سیستم د پیاوړتیا لپاره اړیني کړنې ترسره کړي.

۵٫۱٫۲٫۱٤ په هیواد کې تخصصي، فوق تخصصي او نورو روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي د ډېرولو لپاره د وزارت په چوکاټ

کې عامه او خصوصی مشارکت (PPP) میکانیزمونو ته پراختیا او حمایه ورکول کیږي.

۵٫۱٫۲٫۱۵ د هیوادوالو او په روغتیايي سیستم کې د اړوندو غړو او اداراتو د شکایاتونو کتنه او مناسب ځواب ورته ویل.

۵٫۱٫۲٫۱۶ د عامې روغتیا وزارت په روغتیايي مرکزونو کې د ټولنو غړو او استازو په ګډون د روغتیايي کمیټو له لارې د روغتیايي سیستم د لا ښه والي لپاره اړینې کړنې ترسره کوي تر څو د پلي کولو لپاره یې اړین ملاتړ تر لاسه شي.

۵٫۱٫۲٫۱۷ عامې روغتیا وزارت به د برښنايي حکومتولۍ له لارې د پراختیا لپاره اړینې کړنې ترسره کړي چې په روغتیايي سیستم کې اړینې ورتیاوې او تجهیزات برابر او امارتي اداري مراحل اسانه او د روڼتیا څخه برخمن شي.

۵٫۱٫۲٫۱۸ د ټولنې روغتیايي خدمتونو د لاسرسي په پار سپینې ساحې تر پوښښ لاندې نیول.

۵٫۱٫۲٫۱۹ د روغتیايي پرسونل د اسنادو، روغتیايي کتنځایونو، روغتونونو، تشخیصیه مرکزونو، د درملو اړوند او داسی نورو رسمي اسنادو او جوازونو ورکول.

۵٫۱٫۲٫۲۰ **روغتیايي سیستم کې مسئولانه مدیریت:** روغتیايي نظام به په مدیریت او مسئولانه څارنه (Stewardship)باندې متمرکز وي چې د اسلامي امارت پر مټ به د ټولنې هوساینه تضمینوي. په دې کې د روغتیايي نظام لارښودنه، د هغې د دندو سرته رسول، د عدالت تضمین او د ټولنې او نظام تر منځ همغږی او تعاملات شامل دي.

۵٫۱٫۲٫۲۱ عامې روغتیا وزارت د هیواد په روغتیايي سیستم کې د معیارونو په اساس د سنتی طب درملو د ادغام لپاره اړینې کړنې ترسره کوي.

۵٫۱٫۲٫۲۲ په ملي کچه هر ډول روغتیايي معلومات د عامې روغتیا وزارت له اجازې پرته د خپریدو وړ نه دي.

۵٫۱٫۲٫۲۳ په ملي کچه هر ډول روغتیايي څیړنې د عامې روغتیا وزارت له تائید پرته نه ترسره کیږي.

۵٫۱٫۲٫۲۴ معالجوي، وقایوي او عامې روغتیا په برخو کې د روزنو او څیړنو مرکزونو جوړول او تجهیزول.

۵٫۱٫۲٫۲۵ د خوندي روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو لپاره د مسلکي معیارونو جوړول او پلي کول.

## ۵,۲ د کارکوونکو چارو ساحه

### ۵,۲,۱ د پالیسي موخه:

ور، ژمن، هڅاند او مسؤلیت منونکي کارکوونکي پراختیا ترڅو د روغتیایي چوپړتیاوو برابرول پیاوړي شي چې د اقتصادي پیاوړتیا، ټولنیزې هوسایني، ملي او نړیوال روغتیا خوندیتوب لاامل وګرځي.

### ۵,۲,۲ بنسټيزې کړنې:

۵,۲,۲,۱ د کارکوونکو چارو پلان جوړونه باید له روغتیایي اړتیاوو سره سم، د ناروغیو ځانګړتیاوو، زیان منونکو ډلو ته پام سره په هغو سیمو کې متمرکز شي چې د کارکوونکو له سخت کمښت سره مخ دي او هم د روغتیایي سیستم د جذب وړتیا ته په پام کې نیولو سره تمرکز ولري.

د عامې روغتيا وزارت د کارکوونکو چارو لوی ریاست له لارې له اړوندو ادارو سره په همغږۍ له خدمت څخه مخکې او داخل خدمت روزنه او د طبي او عامې روغتیا متخصصینو ګمارل به د موخې پر بنسټ طرحه کېږي.

د عامې روغتيا وزارت د مدیریت په بېلابېلو برخو کې د روغتیایي پرسونل د وړتیا لوړولو په موخه د لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله زده کړو لپاره معیاري برنامې په لاره اچوي او د دوی له اړتیاو سره سم به طرحه او پلي شي. چې په دغه برخه کې به د عامه او خصوصي روغتونونو او ښوونیزو مرکزونو له شته امکاناتو څخه استفاده کېږي.

**۵,۲,۲,۲ د کارکوونکو ظرفیت لوړول به د معیارونو پر بنسټ وي:**

د عامې روغتيا وزارت به له اړوندو ادارو سره په همغږۍ د روغتونونو مدیرانو، ډاکټرانو، نرسانو او نور پرسونل بنسټيزې وړتیاوې او دندې مشخصې او په نصاب کې به شاملې شي.

د عامې روغتيا وزارت به د روغتیا په بیلابیلو برخو (ساحوي اپیدیمیولوژي، چاپیریالي روغتیا، ارزونو او نور) مدیریت او رهبرۍ په برخو کې د روغتیايي پرسونل د وړتیا لوړولو په موخه معیاري لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله ښوونیزې برنامې د دوی له اړتیاوو سره سم طرحه او پلي کړي. د عامې روغتيا وزارت به د روغتونونو او ښوونیزو مرکزونو له شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره د کارکوونکو د وړتیا لوړولو کې د ښې پلان چمتو کول او د عامه او خصوصي مشارکت ونډه غښتلې کړي.

عامې روغتيا وزارت به د مسلکي روغتیايي کارکوونکو دوامداره طبي زده کړو دود ته وده ورکړي. د ګمارلو پروسه د وړتیاوو او لیاقت د اصولو سره سم پلي کېږي. نوو ګمارل شوو کارکوونکو ته د اړوندو دندو په برخه کې روزنه ورکول کېږي او تبدیلي، خدمتي ګمارنې او ګوښه کول د اصولو او مقرراتو سره سم ترسره کېږي او له ناوړه ګټې اخیستنې او د نفوذ له نارغنده اعمالولو څخه مخنیوی کېږي.

**۵,۲,۲,۳ روغتیايي کارکوونکو ته له ملي معیارونو سره سم جواز ورکول:**

عامې روغتيا وزارت روغتیايي کارکوونکو لپاره د جواز ورکولو ملي معیارونه او طرزالعملونه رامنځته کوي ترڅو ورکړل شوي جواز کې اجباري الزامات د کارکوونکو له وړتیا او کاري تجربې سره سمون ولري او همداراز به روغتیايي کارکوونکو ته د کاري چاپیریال او شرایطو ښه کولو زمینه برابروي.

**۵,۲,۲,٤ د داخل خدمت روزنو لارښود:**

د داخل خدمت روزنیزو زده کړو لپاره باید د روغتیا ملی ستراتیژي او روزنیزو ښوونو یوه ټولګه او همداراز د درملنې معیاري لارښود ترتیب کړای شي.

**۵,۲,۲,۵ د منځنۍ کچې طبي کارکونکو ته مسلکي دندې په زړه پورې کول:**

د ښوونې او روزنې د کيفيت د ښه والي ترځنګ به د منځنۍ کچې طبي کارکونکو لپاره د ليسانس او ماسټري زده کړو د برابرولو هڅه وشي. د منځنيو روغتيايي کارکونکو لپاره د مسلک د ارزښت په اړه سيستماتيکې اړيکې او ملاتړ کمپاينونه به پلي شي ترڅو د هغوی اعتبار ته وده ورکړي او په ټولنه کې شته ناسمې انګيرنې له منځه يوسي. د منځنيو روغتيايي کارکونکو په روزنيزو برنامو کې ګډون لپاره ټاکلي شوي معيارونه به ښه شي.

**۵,۲,۲,٦ روغتيايي کارکوونکو هڅونه او روحيه لوړونه:**

د روغتيايي مرکزونو، اماريتي ادارو کارکوونکو ته د معاشونو او حق الخطر د حقونو سربېره مالي تشويقونو لکه امتيازي معاش، معنوي هڅونې، علمي او تعليمي هڅونې د ورکولو امکانات به د عامې روغتيا مرکزونو د پراختيايي پلان په چوکاټ کې د اصولو او مقرراتو سره سم په پام کې ونيول شي. مناسبې غيرمالي هڅونې به په ټولو کچو کې وپېژندل شي او پلي شي. په دې هڅوونو کې د کار موده کمولو د پاره کاری شفت جوړول، د مسلکي خپلواکې زياتوالي، د دندې پراختيا، کاری امنيت او خونديتوب پکې ګډون لري. روغتيايي کارکونکي به وهڅول شي چې په خپلو مسلکي برخو کې خدمتونه وکړي.

**۵,۲,۲,۷ روغتيايي متخصصينو مسلکي او سلوکي روزنه له نړيوالو معيارونو سره بر ابرول:**

د ډاکټرانو، نرسانو او نورو مسلکي او تخنيکي کارکوونکو د خدمت د مخه او داخل خدمت روزنې لپاره به د اصلي مسلکي او سلوکي روزنو برابرولو بنسټ په توګه روغتونونه ځانګړي شي.

د تدريسي برنامو بيا ارزونه به د اړوندو ادارو په همغږۍ تر سره او له نړيوالو معيارونو سره به سمون ورکړل شي.

**۵,۲,۲,۸ د تخصص بشپړولو برنامې د نړيوالو معيارونو مطابق پلي او پراختيا ورکول:**

۱. د تخصص د بشپړولو برنامې د اغيزمنې پلي کيدلو په مټ په کيفيت لرونکې روغتيايي خدمتونه په ټولو روغتيايي مرکزونو (د دويمې او دريمې کچې) کې د متخصصينو لخوا وړاندې شي. په همدې موخه د عامې روغتيا وزارت لومړيتوبونو په توګه د روغتيايي خدمتونو کيفيت د لوړولو په برخه کې د دويمې (ثانوی) او دريمې (ثالثی) کچې د تخصص بشپړولو برنامه له اړينې ارزونې وروسته به اجرايوي پلان تطبيق شي. د عامې روغتيا وزارت به هڅه وکړي چې د متخصصينو کلينيکي روزنه خصوصي روغتيا سکتور ته هم وغزوي.

۲. په معيارونو برابرو خصوصي روغتونونو کې د اکمال تخصص برنامو ته اجازه ورکول او همدا ډول اړوندو ترينر استادانو ته يې له اصولو سره سم علمي رتبې اجرا کول.

**۵,۲,۲,۹ د تخصص بشپړلولو برنامې درسي نصاب معياري او پياوړي کول:**

۱. د تخصص بشپړولو درسي نصاب کې به د افغانستان جغرافيوي ناروغيو ته په کتو د ملي او نړيوالو معيارونو سره سم به د تخصص هري څانګې ته پاملرنه او نوي تخصصي رشتو جوړولو ته لومړيتوب ورکول.

۲. په بنسټيز روغتيايي کلينيک او بشپړ روغتيايي کلينيکونو کې د ليسانس ډاکټرانو او ولسواليو روغتونونو کې د متخصص داکټرانو ګمارنې ته لمړيتوب ورکړل شي.

۳. د روغتيايي چوپړتياوو د ښه والي په پار د ولسواليو، ولايتي او سيميزو روغتونونو ته په خدمتی ډول د اکمال تخصص د برنامې فارغينو د معرفي کولو لپاره د مناسبې طرحې ترتيبول.

## ۵,۳ د روغتیایي سکتور تمویل ساحه

### ۵,۳,۱ د پالیسی موخه:

د روغتیایي سکتور د تمویل یا د مالي سرچینو د چمتو کولو د بهیر اصلاح، پیرلځواک او عدالت ته په پام سره روغتیایي معیاري او ارزانه خدمتونو ته لاسرسی، د شته سرچینو څخه مؤثره ګټه اخیستنه او د اسلامي اساساتو او معیارونو سره سم مشخصو شرایطو ته په پام سره د مالي ساتنې د میکانیزمونو چمتوالی.

### ۵,۳,۲ بنسټیزې کړنې:

**۵,۳,۲,۱ د سرچینو تولید او په ملي کچه د روغتیایي سیستم د تمویل په موخه د مالي سرچینو لپاره د نوو طرحو رامنځته کول او د تطبیق لپاره یې نیاو غوښتنه:**

۱. دعامې روغتیا وزارت به د روغتیایي سکتور لپاره د ثابتو او دایمي سرچینو په لټه کې وي، کورنۍ او بهرنۍ مالي سرچینې به روغتیایي سکتور ته د ملي او پایداره معیارونو پر بنسټ جلبوي.
۲. پـه روغتیـایي سـکتور کې بـه د اسـلامي امـارت د ونـډې لوړولـو لپـاره دوامـداره هڅـه وشـي او لـه کلني کـورني بودیجې څخه به مناسبه فیصدی روغتیایي سکتور ته ځانګړې شي.
۳. د روغتیا په سکتور کې د خصوصی پانګونې د جلب لپاره د عامه او خصوصي مشارکت د پیاوړتیا لپاره به هڅه کوي.
۴. په روغتیایي سکتور کې رامنځته کیدونکي عواید او د مضره تولیداتو او اجناسو، لکه تنباکو، غیر الکولي څښاک، انرژي لرونکو مشروباتو او نورو څخه راټولېدونکي اصلاحي مالیات په نښه او روغتیا سکتور ته ځانګړي شي.
۵. د اسلامي امارت له سکتورنو سره‌په همغږۍ د معدنونو په عوایدو کې یوه مشخصه سلنه به د روغتیایي سکتور لپاره وغوښتل شي.
۶. د عامې روغتیا وزارت به په ټولو روغتیایي مرکزونو کې د لګښتونو ونډې (Cost Sharing) په موخه د اړونده تقنیني سندونو سره سم حق الاجرت (فیس) او داسې نور راټولوي.
۷. د عامې روغتیا وزارت به د عامه پوهاوي له لارې خلک هڅوي چې خپل زکات او نورې اعانې روغتیایي سکتور ته ورکړي.
۸. د عامې روغتیا وزارت به په دوامداره توګه د شته خدمتونو د پایښت او ټولنې روغتیایي اړتیاوو ته د مناسب ځواب ورکونې په موخه په ملي او نړیواله کچه د مالي سرچینو ترلاسه کولو لپاره نیاوغوښتنه (Advocacy) کوي.

**۵,۳,۲,۲ د سرچینو لټول او ګټه اخیستنه:**

په روغتیایي سکتور کې راټول شوي عواید به د عامې روغتیا وزارت لخوا په مثمره او اغیزمنه توګه او د عدالت په نظر کې نیولو سره په مصرف رسیږي ترڅو د عام روغتیایي پوښښ معیارونه پوره کړي.

**۵,۳,۲,۳ د روغتیایي خدمتونو پېرل:**

۱. عامې روغتیا وزارت به د خپلو ملي او نړیوالو کاري شریکانو سره د پیریدلو د مختلفو ستراتیژیکو میکانیزمونو له لارې د روغتیایي خدمتونو برابرولو آسانتیا رامنځته کوي ترڅو د روغتیایي خدمتونو کیفیت او عدالت څخه ډاډ ترلاسه شي.
۲. عامې روغتیا وزارت به د مخکې ادایني یا پیش پرداخت میکانیزمونو لکه دولتي مالي کومکونه (Subsidy) او تکافل د پېژندنې له لارې په روغتیایي سکتور کې د کورنیو د شخصي لګښت (OOP) پر کمولو تمرکز کوي او د ډیرو لګښتونو څخه به مخنیوی کوي.

## ۵,۴ د روغتیايي چوپړتیاوو وړاندې کولو ساحه:

### ۵,۴,۱ د پالیسي موخه:

په ټولو روغتیايي کچو او برخو کې د خصوصي سکتور په ګډون د روغتیايي او تغذي چوپړتیاوو شتون، لاسرسي، کارونې او کیفیت ته پاملرنه، پراختیا او ښه والي ورکول ترڅو نړیوال روغتیايي پوښښ ترلاسه شي.

### ۵,۴,۲ بنسټیزې کړنې

دا پالیسي د روغتیا پاملرنې د چوپړتیاوو تنظیمولو لپاره لاندې کلیدي بدلونونه وړاندې کوي.

۱. د ملي او نړیوالو کاري شریکانو سره په همغږۍ به یوه نوې د روغتیايي چوپړتیاوو وړاندې کولو ټولګه ترتیب کړل شي، ترڅو د هیواد وګړو اړتیاوو او ناروغیو اپیډیمیولوژیکي وضعیت ته ځواب ویونکي وي.
۲. نوې ټولګه یا ټولګې باید د روغتیايي چوپړتیاوو کچې لکه لومړنۍ (ابتدايي)، د دوهمې (ثانوي) او د دریمې (ثالثي) کچو چوپړتیاوو او د روغتیايي مرکزونو ډولونه تعریف کړي. د ناروغیو څارنې، مدیریت، او بیړنې چمتوالي په برخو کې به هراړخیزه وي.
۳. د روغتون د اساسي خدمتونو کڅوړه (EPHS) او د بنسټیزو روغتیايي خدمتونو کڅوړه (BPHS) ته بیاکتنه او اصلاحات راوستل.
٤. د روغتیايي چوپړتیاوو د نوې ټولګې یا ټولګو د مداخلوي اقداماتو پلي کولو لپاره باید یو پرله پسې لړونکې تګلاره چې نوموړې ټولګې یا ټولګو ته به له شته مالي او انساني سرچینو او عملیاتي وړتیاوو سره سمون ورکړي. د روغتیايي چوپړتیاوو د نوې ټولګې یا ټولګو د پلې کولو واقعي لګښت به د هر ولایت لپاره د هغه ولایت د نفوس، ناروغیو بار، جغرافیايي لاسرسی، شته انساني سرچینو او نورو مشخصاتو پر بنسټ وټاکل شي او د روغتیايي چوپړتیاوو په قراردادونو کې به په ډاګه شي.
۵. د عامې روغتیا وزارت به روغتیايي چوپړتیاوو اوسنیو تطبیق لارو ته تر بیا کتنې پورې دوام ورکړي په عین وخت کې به د اسلامي امارت پر مټ د روغتیايي چوپړتیاوو مستقیمه وړاندې کوونه د ترونونو د موډلونو د مقایسوي مطالعې، د قیمت د اغېزمنتوب، د مقایسوي ګټورتوب شننې او کیفیت اړوند مطالعې له لارې د چوپړتیاوو وړاندې کوونکو او هم د چوپړتیاوو ګټه اخیستونکو له انده وځېړل شي.
٦. د عامې روغتیا وزارت باید ډاډ ترلاسه کړي چې د روغتیايي خدمتونو وړاندې کونکو ترمنځ هیڅ ډول تضاعف یا د همغږۍ نشتوالی شتون ونلري.
۷. عامه او خصوصي روغتونونو درجه بندي او اعتبار ورکولو بهیر به پاملرنې پیدا کړي او پدې وسیله به غوره روغتیايي چوپړتیاوو ډاډ هم ترلاسه شي.
۸. په تدریجي ډول د امارتي بودیجې لخواه روغتیايي چوپړتیاوو وړاندې کول ترڅو په راتلونکې کې د هیواد روغتیايي مرکزونه د امارتي بودجې سره د خدمتونو وړاندې کولو توان ته برابر شي.
۹. د ناروغانو د لېږون سیستم پیاوړي کولو لپاره به لومړنیو، دوهمې او دریمې کچې روغتیايي خدمتونو په اوږدو کې د همغږۍ ښه کول، او ډاډ ترلاسه کول چې ناروغان په اغېزمنه توګه د دوی اړتیاو پر بنسټ د پاملرنې مناسبې کچې ته پر وخت راجع کیږي. دا به د روغتیا پاملرنې رسولو عمومي کیفیت، لاسرسي او مؤثریت ته وده ورکړي.
۱۰. د څیړنو او مطالعاتو سیستم پیاوړي کول.

۱۱. د ناروغانو او پایوازانو محرمیت ته ځانګړې پاملرنه کول.
۱۲. په روغتیايي مرکزونو کې د ښځینه روغتیايي کارکوونکو، ناروغانو او پایوازانو د حجاب په برخه کې د شرعي اصول پلي کول او امکانوته په کتو د ځانګړو طبي کمپلیکسونو او نورو اړوندو تعلیمي او روغتیايي مرکزونو جوړولو لپاره کار کول.
۱۳. په روغتیايي مرکزونو کې بسترشویو ناروغانو لپاره اړین غذايي رژیم پیاوړي کول.

### ۵،٤،۲،۱ لومړنی روغتیايي پاملرنې

د عامې روغتیا وزارت ژمن دی چې په ټول هیواد کې وګړو ته د عدالت پربنسټ، د لاسرسي وړ، مدغم شوي او د لوړ کیفیت لرونکي لومړني روغتیايي پاملرنې (PHC ) (رواني، سترګو، معلولیت او بیا رغونه، د خولې او غاښونو، غوږ، پوزې او ستونې، ټولنې پر کچه خدمتونه) وړاندې کړي.

د عامې روغتیا ملي پالیسي له محدودې (انتخابي) پاملرنې څخه د بشپړ لومړنی روغتیايي پاملرنو کچورې ته مهم بدلون وړاندې کوي چې مهم عناصر په لاندې ډول دي:

### ۵،٤،۲،۲ کورنی روغتیايي ځالې / لومړنی روغتیايي مرکزونه:

هغه مرکزونه چې د لومړنی روغتیايي پاملرنو خدمتونه وړاندې کوی کورنی روغتیايي ځالې یا لومړني روغتیايي مرکزونه بلل کیږی چې دا روغتیايي مرکزونه به د یوې ټاکل شوې کچورې له مخې د مخنیوي، پرمختیايي (ترویجي) درملنې او بیا رغونې خدمتونه وړاندې کولو وړتیا ولري.

### ۵،٤،۲،۳ د لومړنی روغتیايي پاملرنو داړمنتیا :

د دې لپاره چې کورنی د لومړنیو روغتیايي پاملرنو له مرکزونو سره ونښلول شي د هیواد په لرې پرتو سیمو کې به د سپینو ساحو د کمولو په پار د ټولنې په کچه روغتیايي خدمتونه د ټولنې روغتیايي کارکونکو (CHW) له لارې پیاوړي شي.

### ۵،٤،۲،٤ سپینې ساحې ترپوښښ لاندې نیول:

۱. د هغو سیمو لپاره چې په کې بنسټیز روغتیايي خدمتونه نه وړاندې کیږي، د نفوسو او جغرافیې معیار ته په کتو د نوو روغتیايي مرکزونو جوړول او د وړ مسلکي کارکوونکو په ځانګړې توګه د ښځینه مسلکي پرسونل په ګمارلو او ساتلو، د ټولنې د روغتیايي کارکوونکو غښتلي کول.د زندانونو روغتیايي خدمتونه د ولایتي او مرکزي روغتیايي آسانتیاوو او مرکزونو په کچه معیاري کول.
۲. د کوچیانو، راستنېدونکو، بې ځایه شویو خلکو او صعب العبور ځایونو لپاره د روغتیايي چوپړتیاوو امکاناتو برابرول.
۳. د معلولینونو او معیوبینو د ناروغیو د مخنیوي او بیا رغونې خدمتونو پیاوړي کول.
٤. د سترګو د ناروغیو د مخنیوي او بیا رغونې خدمتونه وړاندې کول.

### ۵،٤،۲،۵ تولنیز لومړني روغتیايي خدمتونه او د سنتي درملنې اړوند کړنې:

دا تکلاره د سنتي، هومیو پیتک او نورو مروجو درملنو د اړوندو کړنو له لارې د لومړنیو روغتیايي چوپړتیاوي د وړاندې کولو، څېړنو او ارزونې ملاتړ کوي. د دې کړنو د خوندیتابه، مؤثریت او معیاري کولو لپاره باید د روزنې رسمي برنامې تصدیق شي او له مقرراتو او رسمي روغتیايي سیستم سره یې له همغږۍ څخه د داړ ترلاسه کولو لپاره میکانیزمونه جوړ شي. د سنتي او همدارنګه نورو درملنو خوندیتوب او مؤثریت باید د علمي څېړنو او شواهدو پر بنسټ و ارزول شي.

### ٥،٤،٢،٦ د دوهمې کچې روغتیايي چوپړتیاوې:

**۱.د ولسواليو په کچه روغتیايي مرکزونه:**

د دې لپاره چې د هیواد د وګړو لاسرسی د دوهمې کچې (ثانوي)کیفیت لرونکې روغتیايي خدمتونو ته لا پیاوړې او دوی ته په مساویانه او عادلانه توګه روغتیايي خدمتونه تر سره شي، ورسره به سپینو ساحو ته پاملرنه وشي نو د هیواد په ټولو ولسوالیو کې به عمومي روغتونونه (GH) جوړ شي او همدا ډول به ولایتي روغتونونه پیاوړي شي.

### ٥،٤،٢،٧ د دریمې کچې روغتیايي چوپړتیاووې :

د دریمې کچې(ثالثي) روغتیايي خدمتونه به په ولایتي، حوزوي، تخصصي، ملي او نظامي روغتیايي مرکزونو کې تعریف شي، نیمګړتیاوې به یې په ګوته شي، ثالثي نوې ټولګه به معرفي او په ثالثي روغتونونو کې به د دریمې کچې روغتیايي خدمتونو معیار لوړ شي.

### ٥،٤،٢،٨ په سرطاني ناروغیو، بیړنې، جدي پاملرنې او په نورو پورې د تړلو واحدونو روغتیايي چوپړتیاووې:

۱. په روغتونونو کې د روغتیايي خدمتونو ښه کولو لپاره د سرطاني، بیړنې، جدي پاملرنه، د نوو زیږیدلو ماشومانو د جدي پاملرنې، وینې بانک، صدمو پاملرنې، تشخیصیه، هیموډیالیز او په نورو پورې د تړلیو ناروغانو ځانګې (HDU) رامنځته او پیاوړې کول چې دغه خدمتونه به پراو په پراو نورو روغتونونو ته پراختیا و مومي.

۲. د عامې روغتیا وزارت د سرطان د خپریدو د کنټرول لپاره عامه پوهاوي، مخنیوي، پر وخت تشخیص، او معیاري درملنې ته په لاسرسي تمرکز کوي.

۳. بیړنۍ روغتیايي چوپړتیاوې به د روغتونونو په ټولو ډولونو کې شتون ولري او لا به پیاوړي شي، اما د نویو زیږیدلو ماشومانو خدمتونو ځانګې به د ماشومانو، نسایي، ولادي او په نورو اړوندو روغتونونو کې رامنځته او چیرې چې شتون لري پیاوړي شي.

۴. د عامې روغتیا وزارت به خصوصي سکتور سره په همغږۍ نړیوالو معیارونو سره سم د ټولنې اړتیاوو پربنسټ هغه خدمتونو ته لومړیتوب ورکړي کوم چې په هیواد کې پرمختللي او نمونوي تخصصي او فوق تخصصي خدمتونه وړاندې کوي. همدارنګه هغو ځانګو چې تر اوسه د هیواد په عامه سیسټم کې لږ شتون لرې او یا نشته لکه د قلبي وعايوي جراحي، قلبي جراحي، عصبي جراحي او داسې نورو ته وده ورکول.

### ٥،٤،٢،٩ د روغتیا ملي برنامې:

#### ۵،۴،۲،۹،۱ د زیږون، میندو، نوي زیږون، ماشوم او تنکي ځوانانو روغتیا (RMNCAH):

۱. د مور او ماشوم د مړینې کچې ټیټولو لپاره په روغتیايي مرکزونو کې زیږون ځخه مخکې او وروسته چوپړتیاوو ته د لاسرسي زیاتوالي او حامله میندو ته د روغتیايي چوپړتیاوو او مشورو ورکولو خدمتونه اړین ګڼل.

۲. په ملي او ولایتي کچه د نسایي او ولادي مرکزونو پراختیا او چوپړتیاوو غښتلي کول.

### ۵،٤،۲،۱۰ خوارځواکي او کوچنيو مغذي موادو کمښت ته رسيدنه:

۱. خوارځواکي او د کوچنيو مغذي موادو کمښت ته د رسيدنې په موخه د عامه تغذي خدمتونو پیاوړتیا او کیفیت لرونکي تغذي خدمتونو او محصولاتو ته په ځانګړې توګه د خصوصي روغتيايي مرکزونو په ګډون په ټولو روغتیایي مرکزونو کې د لاسرسي زياتوالی.

۲. د خلکو لپاره عامه پوهاوي او تغذي کړنو ته وده ورکول، په شواهدو ولاړ د ټولنې ورتيا پراختيا، پياوړتيا او د تغذي لپاره وړ او مناسب چاپيريال رامنځته کول او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم روغتيايي وضعيت ته پاملرنه. همدارنګه بايد په هېواد کې د تغذي توکو (RUTF، RUSF، Super Cereal، او داسي نورو) توليد پياوړي شي او د اوسپنې، فوليک اسيد، ايوډين لرونکي مالګې، د ويټامين A بشپړولو او داسي نور کوښښونه بايد لا ګړندی او پياوړي شي.

### ۵،٤،۲،۱۱ د کتلوي معافيت برنامې ته پراختيا ورکول:

د کتلوي معافيت (EPI) برنامې ته د لومړيتوب ورکولو او کيفيت ښه کولو په موخه د واکسين پوښښ پراخول. د ناروغيو اپيډيمولوژيکي کتنو پر بنسټ دروتين واکسينونو ترڅنګ د نويو واکسينونو وړاندې او همدارنګه د پوليو (ګوزڼ) محوه کول اړين ګڼل.

### ۵،٤،۲،۱۲ د ساري ناروغيو مخنيوی:

ساري ناروغي (CDs)په ځانګړې توګه کولرا، تور او سپين زيړی، شري، حادو تنفسي انتاناتو، اسهال، تيتانوس، ، وينه بهوونکو ناروغيو، جذام، دليوني سپي ناروغی ، ډينګي تبه، د تودو سيمو له پامه لويدلي (NTDs) او نورو ساري ناروغيو د پيښو پروخت پيژندنه،مخنيوي او کنټرول او يادو ناروغيو د سروېلانس سيستم پياوړی کول. دا تکلاره د هراړخيز بيړني پلانونو په جوړولو، د اړتيا وړ سرچينو په تخصيص، او د ښه روزل شوي کاري ځواک د يقيني کولو له لارې ناورين پر وړاندې چمتووالی، تدابير او ځواب ورکونې اړوند ټينګار کوي. دا د چټکو مداخلوي اقداماتو له لارې، همغږي شوي طبي عکس العملونو، او عامې روغتيا ته د پښيدونکو بيړني ګواښونو، نويو پيدا او راپورته کېدونکو ناروغيو ته د رسيدو او اړوندو ناروغيو له کبله د رامنځته کيدونکي خطرونو کمولو هڅو له لارې نړيوالو معيارونو ته په کتنه د وبا کنټرول ته لومړيتوب ورکوي.

### ۵،٤،۲،۱۳ د نري رنځ ناروغی درملنې ته رسيدنه:

د نري رنځ د پيښو موندنه او درملنې ته وده ورکول، د حساس او مقاوم نريرنځ د تشخيص او درملنې لپاره کيفيت لرونکي روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي زياتوالی. د ټولو روغتيايي چوپړتياوو وړاندي کوونکو همغږې کول، هڅونه او ښکيلول. په هيواد کې د نري رنځ د لابراتوار شبکې پراختيا او پياوړی کول.

### ۵،٤،۲،۱٤ د ايچ آی وی، هيپاټايټس بی او جنسي ناروغيو پروړاندې مبارزه:

د ايچ آي وي، هيپاټايټس بي او جنسي ناروغيو (STD)مخنيوي او کنټرول، ترڅو د لېږد مخه ونيول شي او ټولو ناروغانو ته لاسرسی باوري شي او د دغو ناروغيو له کبله د مړينې کچه راټيټه شي.

### ۵،٤،۲،۱۵ د ناقله له لارې خپریدونکې ناروغیو کنټرول:

د ملاریا، لشمانیا او نورو ناقله ناروغیو له منځه وړلو برنامو د پیاوړی کولو او پراختیا ورکولو په موخه دملي او نړیوالو کاري شریکانو سره په همغږۍ د ملاریا او لشمانیا سره د مخکیدونکو وګړو ته د اغیزمنو معالجوي او مخنیویزو خدمتونو د لاسرسي ډاډمن کول او "افغانستان له ملاریا څخه پاک دی" لرلید ته رسیدل.

### ۵،٤،۲،۱٦ د غیرساري ناروغیو مخنیوي:

له غیرساری ناروغیو(NCDs) لکه سرطان، د زړه او رګونو، شکر، مزمنې تنفسی او نورو ناروغیو پرمختګ څخه مخنیوی کول، او غیرساری ناروغیو د سرویلانس سیستم پیاوړی کول.

### ۵،٤،۲،۱۷ د رواني روغتیا خدمتونو پیاوړي کول:

د رواني روغتیا چوپړتیاوو او رواني ټولنیز ملاتړ خدمتونو پیاوړتیا په موخه رواني روغتیا آسانتیاوو ځانګې او روغتیایي مرکزونو رامنځته کول او پیاوړي کول.

### ۵،٤،۲،۱۸ د روږدیتوب پرو ړاندې مبارزه:

د روږدیتوب درملني او مخنیوي ملي برنامې د روږدیتوب روغتیایي مرکزونو او عامه پوهاوي له لارې هغو کسانو ته هر اړخیزه پاملرنه برابروي چې د مخدره موادو په کارولو عادت دي. دا نوښتې د میتادون درملو په واسطه درملنه هم په ځان کې رانغاړي.

### ۵،۴،۲،۱۹ بیړنې پاملرنه او د ناورینونو پرو ړاندې چمتووالی:

۱. بیړنیو روغتیایي حالتونو ته منظم چمتووالی، ځواب ورکونه او د اړوندو چوپړتیاوو پیاوړي کول.
۲. د ناروغیو طغیانات (Outbreak)، اپیډیمی او پانډیمی په وړاندې د چمتووالي او ځواب ورکونه.
۳. د عامې روغتیا او خصوصي سکتور روغتیایي مرکزونه به د بیړني روغتیایي وضعیتونو راپور په منظمه توګه ورکوي.
٤. د عامې روغتیا وزارت به د حکومت مشرتابه تر چتر لاندې د طبیعي پېښو پر وړاندې مبارزې کمیټه (DMC) د اړوندو وزارتونو، ادارو او همدارنګه د ملګروملتونو او نورو همکارو ادارو سره په ګډه کارکوي او د پیښو پر وړاندې به د شرایطو سره سم تګلارو ته وده ورکړي. د روغتیایي مسلکي کارکونکو او په دخولي ساحو کې د روغتیایي آسانتیاوو لپاره ملي لارښودونه او په هیواد کې د مهاجرینو او بې ځایه شویو اړتیاوو پوره کولو لپاره ګرځنده روغتیایي ټیمونو د ګمارلو میکانیزمونه او لارښودونه جوړ او پلي شي.
۵. طبیعي او انسان جوړکړو ناورینونو لکه زلزلې سیلاوونه او د کډوالو راستنیدلو او نورو پر وړاندې چمتووالی.
۶. د عامې روغتیا او خصوصي سکتور روغتیایي مرکزونه به د بیړني روغتیایي وضعیتونو راپور په منظمه توګه د روغتیا وزارت اړوند څانګو ته ورکوي.
7. د هیواد په لویو لارو او ترانزیتي ساحو کې د بیړنیو روغتیایي آسانتیاوو او خدمتونو لپاره بیړني روغتیایي مرکزونه جوړول.
۸. د عامې روغتیا وزارت د پلانونو او پالیسیو تخنیکي او مالي ملاتړ لپاره به د کاری شریکانو څخه همکاری وغوښتل شي ترڅو د حوادثو له منځه وړلو لپاره اړینو تګلارو ته د هیواد شرایطو ته په کتو پیاوړتیا ورکړل شي.

### ۵،٤،۲،۲۰ کاري شریکانو سره په ګډه چاپیریالي روغتیایي چوپړتیاوو، روغتیا ساتنه او اړوندو خطرو مدیریت

د چاپیریال اړونده ناروغیو څخه ساتنې او مخنیوي په پار له اړوندو ګواښونو (Hazards) او ککړتیاوو (Pollution)څخه د خلکو ژغورل، عامې روغتیا وزارت به د چاپیریالي روغتیا لپاره له نورو سکتورونو او ښکېلو خواوو سره په همکاري اغیزمن میکانیزمونه، مداخلوي اقدامات او تګلارې تعریف او پلي کړي ترڅو روغتیا ساتنه پیاوړې شي.

### ۵،٤،۲،۲۱ د ټولنېزو کړنو پیاوړي کول:

۱. د ټولنې په کچه روغتیایي خدمتونو لپاره د عامه پوهاوي، د ټولنې چمتو کول، د ملاتړ جلب او برخه اخیستنې پیاوړي کول.

۲. د طبي اخلاقو عملي تګلارو، د طبي اخلاقو د اصولو بنسټيزو تګو، اصولو او قواعدو ترتيب او تنظيم، وده ورکول او پلي کول.

۳. په مرکزي او ولايتي کچه د عامې روغتيا وزارت د ليد لوري په رڼا کې د عدلي طب خدمتونو پياوړتيا او ځانګو رامنځته کول.

### ۵،٤،۲،۲۲ برېښنايي روغتيايي خدمتونه ته وده او پياوړتيا ورکول.

د برېښنايي روغتيا له لارې د روغتيايي چوپړتياوو وړاندې کولو پياوړې کول، ناروغانو د پايلو ښه کولو او سيستمونو د آسانتيا لپاره د ډيجيټل روغتيايي ټکنالوژيو يو ځای کول. له هغو برېښنايي روغتيايي خدمتونو څخه ګټه اخيستل کوم چې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو لپاره کارول کېږي لکه له لرې درملنه او داسې نور.

### ۵،٤،۲،۲۳ حرفوي روغتيا او خونديتابه ته پاملرنه :

د عامې روغتيا وزارت به د حرفوي او شغلي روغتيا د خونديتوب لپاره د کار په ځای کې د کارکوونکو روغتيا، خونديتوب او هوسايني ته پام کوي لکه د کار په ځای کې د خطرونو پيژندنه او کمول، د خونديتوب له معيارونو سره سم د سالم کاري چاپېريال د ودې لپاره روزنه، د ځان ساتنې (محافظتي) تجهيزاتو کارول او خطر ارزونې پلي کول.

### ۵،٤،۲،۲٤ طبي ټکنالوژۍ ته وده ورکول:

عامې روغتيا وزارت په روغتيايي تشخيصيه مرکزونو او ځانګو کې په منظم ډول طبي ټيکنالوژۍ ته وده ورکوي. د طبي ټيکنالوژۍ وده کولای شي، چې کيفيت، کړنې، خونديتوب، لاسرسی او همدارنګه د ناروغانو تشخيص، درملنې او مخنيوی لپاره د روغتيايي پايلو ښه کولو کې مرسته وکړي.

### ۵،٤،۲،۲۵ د لويانو هوسايني او تسکين اړوند روغتيايي چوپړتياوې پراخول:

۱. د عامې روغتيا وزارت به له ملي او نړيوالو کاري شريکانو سره په ګډه د لويانو هوسايني او تسکين اړوند روغتيايي چوپړتياوو ته وده ورکوي او د وړتيا لوړولو لپاره به يو کاري پلان طرحه او ترتيب کړي.

۲. په روغتيايي مرکزونو کې له انتان څخه د مخنيوي او کنټرول او په هيواد کې د انټي مايکروبيل مقاومت (AMR)، د انټي مايکروبيل کارول (AMU) او د انټي بيوټيک مديريت پروګرام (ASP) په نړيوالو معيارونو برابر او پلي شي، د اغيزمنو اړيکو، ښوونې او روزنې له لارې د AMR او AMU په اړه پوهاوی لوړول تر څو انټي مايکروبيل درمل په غوره توګه وکارول شي.

### ۵،٤،۲،۲٦ عامه او خصوصي روغتيايي مرکزونو ترمنځ د اړيکو پياوړتيا او بنسټيز کول:

۱. د عامې روغتيا وزارت به روغتيايي چوپړتياوو د کيفيت ښه والي لپاره د خصوصي سکتور څارنه او ارزونه لا پياوړې کړي.

۲. خصوصي سکتور به روغتیايي چوپړتیاوې او کړنې د قوانینو په چوکاټ کې ملي معیارونو سره سم برابري کړي او خپل شفافيت او حساب ورکولو توان به پیاوړی کړي چې په دې سره به د عامه او خصوصي سکتور تر منځ یو اغېزمن مشارکت رامنځته شي.

۳. دخصوصی او امارتي سکتور د ناروغ لیږون (Refer) یو فعال سیستم رامنځته کول (د امبولانس خدمتونه معیاري او پیاوړي کول).

۴. د عامې روغتیا وزارت به د تشخیصیه خدمتونو لپاره معیارونه ترتیب کړي او روغتیایي مرکزونه به د امکان تر کچې له شته تشخیصیه امکاناتو سره ناروغانو ته خدمتونه ترسره او پیاوړي کړی.

۵. د ناروغیو پېژندل، کنټرول، ارقام راټولول او سروې ګانو لپاره د روغتیايي معلوماتو مدیریتي سیستم (HMIS)د غښتلي کولو په موخه عامه او خصوصی سکتور کې د پام وړ اړین او کوټلي ګامونه اخیستل.

۶. عامې روغتیا وزارت به د خصوصي سکتور روغتیايي خدمتونو لپاره نرخونه تعین کړي او په دې اړوند به نظارت ترسره کوي.

۷. د هیواد په روغتیاي مرکزونو کې د اکسیجن د تولید دستګاوو نصب او فعالول.

۸. په روغتیايي مرکزونو کې د ښځینه روغتیايي کارکوونکو، ناروغانو او پایوازانو د حجاب په برخه کې د شرعي اصول پلي کول او امکاناتو ته په کتو د ځانګړو طبي کمپلیکسونو او نورو اړوندو تعلیمي او روغتیايي مرکزونو جوړولو لپاره کار کول.

## ۵,۵ د خوړو، درملو او روغتیايي محصولاتو ساحه

### ۵,۵,۱ د پالیسي موخه:

د خوړو، درملو، روغتیايي محصولاتو چوپړتیاوو تنظیم، معیاري کول او بنسټیزه پراختیا.

### ۵,۵,۲ بنسټیزې کړنې:

#### ۵,۵,۲,۱ خوړو او درملو بنسټونو او اړوندو کړنو ته جواز ورکول:

د عامې روغتیا وزارت به د نړیوالو معیارونو، ملي او نړیوالو اصولو سره سم د خوړو او درملو تاسیساتو ته د جواز ورکولو یو معیاري میکانیزم جوړکړي.

#### ۵,۵,۲,۲ د خوراکی توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو ثبت او لارمونده:

یوازې هغه خوراکي توکي، درمل او روغتیايي محصولات چې په هیواد کې ثبت او اجازه ولري، د هېواد بازارونو او مصرف ځایونو ته لار موندلی شي. یوازې د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو د صادراتو او وارداتو ځانګړي جواز لرونکي کسان چې دغه جواز يې د عامې روغتیا وزارت څخه تر لاسه کړي وي، د محصولاتو تولیدولو، واردولو او صادرولو اجازه لري.

#### ۵,۵,۲,۳ د خوړو، درملو او روغتیايي محصولاتو کنټرول:

عامې روغتیا وزارت به د کیفي کنترول ترسره کولو سره د خوراکي او درمل محصولاتو کیفیت ته پاملرنه کوي، ترڅو بازار ته د چمتو شوو خوړو او درملو کیفیت ډاډمن شي.

#### ۵,۵,۲,٤ خوراکی بنسټونو څخه پلټنه:

عامې روغتیا وزارت به د اړوندو وزارتونو په همغږۍ ټولو خوراکی تاسیساتو لپاره د خوړو خوندیتوب اصولو په اړه اړین لارښودونه ترتیب او پلي کړي.

#### ۵,۵,۲,۵ د خوراکي توکو خطرونو تحلیل او سرویلانس:

عامې روغتیا وزارت اړینه بولي د یو مسؤل ارګان په توګه د هغو خوارکي توکو په اړه چې په هیواد کې د انسانانو لخوا مصرفیږي اړین او هر اړخیزه تحلیل او سرویلانس ولري.

#### ۵,۵,۲,٦ د درملو خوندیتوب او ناغوښتل شوو غبرګونونو اړوند څارنه:

روغتیايي مرکزونو کارکوونکي او ناروغان به وهڅول شي ترڅو د درملو په اړه ناغوښتل شوو غبرګونونو (ADR)اړوند د عامې روغتیا وزارت په جریان او یا هم ادارې ته راپور ورکړي.

۵,۵,۲,۷ په هیواد کې د درملو تولیدونکي، واردونکي، صادروونکي، تدارک کوونکي او د دوی واکمن استازي مکلف دي چې د درملو ټولو هغو ناغوښتل شوو غبرګونونو اړوند چې دوی ته يې په اړه راپور ورکړل شوی وي معلومات ثبت او د څېړنې او ارزونې په موخه يې د اداري د درملو د خوندیتوب څارنې او ارزونې بهیر (Pharmacovigilance) برخې ته وړاندې کړي.

#### ۵,۵,۲,۸ اعلانونه او خبرتیاوې:

رسنۍ یوازې د هغو خوراکي توکو، درملو، روغتیايي محصولاتو او سینګار توکو اعلانات خپرولی شي چې د عامې روغتیا وزارت سره ثبت وي.

### ۵،۵،۲،۹ د کلینیکي ازموینو کنټرول:

په کلینیکي ازموینو کې، داوطلب کسان (ګډون کوونکي یا په نښه شوي کسان) د پلان له مخې یا هم د څېړنې د پروتوکول پر بنسټ د درملو، روغتیایي محصولاتو یا طبي تجهیزاتو د ځانګړو مداخلو سره مخ کېږي، عامې روغتیا وزارت به د کلینیکي ازموینو څارنه کوي چې موخه یې د برخه اخیستونکو خوندیتوب او حقونو ساتنه ده.

داډ ترلاسه کول چې ازموینې د مناسبو سایښي او علمي موخو ترلاسه کولو لپاره طرحه شوي دي او معلوماتو د جعل کولو مخه نیول شوې ده.

### ۵،۵،۲،۱۰ سنتي درمل:

۱. سنتي درمل د سنتي طبابت اساسي عنصر ده، چې د عامې روغتیا وزارت لخوا د کیفیت او مثمریت د تثبیت او ثبت په موخه ارزول کېږي. عامې روغتیا وزارت د بوټیزو درملو او د هیواد نورو کورنې سنتي درملو تولید، پلور او کارول تنظیموي، پرته له هغو مواردو څخه چې د دې کټګورۍ درملو د ځانګړو توکو د غیر مؤثریت او یا روغتیا ته زیان رسوونکي شواهد ولري.
۲. د بهرنیو هیوادونو سنتي طب درمل د عامې روغتیا وزارت په اجازې او مشخصو شرایطو سره وارد او کارول کیدای شي.
۳. عامې روغتیا وزارت به د خپلو منځنیو روغتیایي زده کړو انستیتونو او د لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ د طبي علومو پوهنتونونو کې د سنتي طبابت د شاملولو او پیاوړي کولو لپاره هڅه کوي.

### ۵،۵،۲،۱۱ د بازارونو کنټرول او قاچاق سره مبارزه:

عامې روغتیا وزارت به د هیواد بازارونو ته په قاچاقو او غیر قانوني توګه د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو مخنیوي په موخه اړوندو امنیتي ادارو، کرهنې او مالدارۍ او مالي وزارتونو سره همغږۍ او اړیکې وساتي.

### ۵،۵،۲،۱۲ کورنیو تولیداتو څخه ملاتړ:

عامې روغتیا وزارت به د روغتیا نړیوال سازمان معیارونو سره سم له خصوصي سکتور سره د خامو موادو پروسس او تولیدي فابریکو کې د ثبت سیستم ملاتړ وکړي.

۱. اغیزمن، خوندي، کیفیت لرونکي، مناسب بیه درمل او روغتیایي محصولات په ټولو دولتي او خصوصي روغتیایي مرکزونو کې موجود وي. (د درملو مجاز او بنسټیز لست په پام کې نیولو سره).
۲. د درملو او روغتیایي محصولاتو رسولو سلسله باید له انتخاب څخه تر مصرف پورې د ملي او نړیوالو کاري شریکانو په همغږۍ پیاوړي شي.
۳. د درملو او روغتیایي محصولاتو معقول مصرف باید په ټولو روغتیایي تاسیساتو (دولتي او خصوصي) کې پلي او تطبیق شي.
۴. په هیواد کې د درملو، خوړو او روغتیایي محصولاتو لپاره د کیفیت کنټرول لابراتوارونو جوړول او پیاوړتیا ورکول.
۵. اغیزمنه، خوندي، لوړ کیفیت او ارزان درمل په ټولو عامه روغتیایي مرکزونو کې شتون ولري.
۶. په افغانستان کې د درملو او طبي محصولاتو اړتیاو برابرولو لپاره د خصوصي سکتور ملاتړ.

## ۵,۶ د روغتيايي معلوماتو سيستم ساحه:

### ۵,۶,۱ د پالیسی موخه:

د شواهدو پر بنسټ د تصميم نيونی جوړوني دود، چې د اوسمهاله، معتبر او باوري شواهدو په اساس يې ملاتړکيږی، د روغتيايي سيستم په ټولو کچو کې بنسټيز شي.

### ۵,۶,۲ بنسټيزې کړني:

#### ۵,۶,۲,۱ د روغتيايی معلوماتو سيستم د ډيجيټلی کيدلو او اليکټرونکی کيدلو هڅې:

ټول روغتيايی سيستمونه لکه د روغتيايي مديريت معلوماتی سيستم، سرويلانس، حياتي احصايې، څارنی، ارزونی او څيړنې/سروې بايد په عصری ټکنالوژۍ لکه بريښنايي، ډيجټل سيستمونو او بريښنايي روغتيا ريکارډ يا EHR/EMR واړول شی ترڅو د ارقامو او معلوماتو سم مديريت او تحليل ته وده ورکول شی.

۵,۶,۲,۲ دعامی روغتيا وزارت به د روغتيايي څيړنو لپاره څيړنيز مرکزونه تقويه کوی.

۵,۶,۲,۳ عامې روغتيا وزارت به ټول روغتيايي معلومات راټولوي او نشروي، نورې امارتي اداري او کاري شريکان د عامې روغتيا وزارت له اجازې پرته روغتيايي معلوماتو نشرولو اجازه نلري. همدارنګه نوموړي وزارت به روغتيايي معلوماتو لپاره هراړخيزه معياري کړنې ترسره کړي.

۵,۶,۲,۴ **راپوروركول:** ټول دولتی ، غيردولتی او خصوصي روغتيايي مرکزونه به دقيق او معتبر روغتيايي ارقام او معلومات د عامې روغتيا وزارت ته په ټاکلی وخت راپور ورکوي (د ساري ناروغيواو بيړني روغتيايی معلوماتو ژرترژره راپور ورکول د روغتيا په ټولو کچو کی اړين دی).

۵,۶,۲,۵ **ديرمختګ څارنه:** روغتيايي پروګرامونه اوفعاليتونو دپرمختګ لپاره بايد په منظمه توګه څارنه ترسره شی ترڅوددغوپروګرامونواوفعاليتونود موخه ته دنژديوالی اولريوالی وکتل شی او همدارنګه وکتل شی چی دا پروګرامونه او پالیسی په عمل کی څومره اغيزمن دی.

۵,۶,۲,۶ **روغتيايی سيستم ته کتنه:** په روغتيايي سيستم کی پرمختګ او فعاليتونو ته بيا کتنه د کاري شريکانو په پراخه ګډون سره بايد په دوره‌ای توګه (لږ تر لږه کلني په ډول) ترسره شي. دغه کتنې به مرسته وکړي چې د روغتيايي خدماتو کيفيت او مؤثريت ارزيابي شي، او د ستونزو او خنډونو په اړه پوهه ترلاسه شي او همدارنګه دپروګرامونوترمنځ همغږی پياوړی شی .

۵,۶,۲,۷ **د ارقامو کيفيت:** د څارنې او پلټنې عمومي رياست مسوليت لری چی دقيق ، بشپړ اوشفاف ارقامو او معلوماتو راټول او ارقامو کيفيت ډاډمن کړي.

٥،٦،٢،٨ **څېړنې اوارزونې**: ټول روغتيايي پروګرامونه اوفعاليتونه به په کمی اوکيفی ډول وارزول شی او د دغو ارزونواوشواهدو پايلې بايد په پاليسی کې د بدلون لپاره وکارول شی . که چيرې کومه پاليسی يا پروګرام مطلوبه پايله ورنکړی ، نوبايد لازم بدلونونه پکې راوستل شی . د څېړنواوتحليلونوپايلی به په ټولو کچو کې د شواهدو پر بنسټ د پريکړه کولو ملا تړ لپاره وکارول شي.

٥،٦،٢،٩ **د روغتيايي حالت لپاره شاخصونو/نغوتاندونه ټاکل**: دوګړو دروغتيايي حالت معلوموللپاره به ځانګړې اومعيارې شاخصونه رامنځ ته شی ترڅودناروغيومخنيوی ، دخدمتونوکيفيت او د روغتيايي حالت ښه والی اندازه کړی.

٥،٦،٢،١٠ **د روغتيايي ارقامواومعلوماتو ملکيت اوجوړښت**: د عامې روغتيا وزارت د ټولو روغتيايي معلوماتو او ارقامو مالک دي، کوم بل سازمان چې د روغتيا اړوند معلومات اوارقام راټولوي بايد دعامې روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رياست سره همغږې اوهمدارنګه نوموړی رياست د روغتيايي معلوماتو جوړښت، د روغتيايي معلوماتو تبادله او د روغتيايي معلوماتو سيستمونه رامينځته کول.

٥،٦،٢،١١ **دروغتيايي معلوماتواو ارقامو ساتنه اومحرميت**: دروغتيايي معلوماتو ساتنه د دڅارنې،ارزونې اوروغتيايي معلوماتو عمومی رياست په غاړه دی ترڅوشخصی حساس روغتيايي معلومات اوارقام د ناسم اوغلط استعمال څخه خوندی وی.

٥،٦،٢،١٢ په ملي کچه هر ډول روغتيايي سروې ګانې، تحقيقونه، څېړنې او ارزونې چې د روغتيا په برخه کې ترسره کيږي، د فعاليت پيل کولو څخه د مخه بايد د روغتيا وزارت اخلاقياتو بورډ (IRB) لخوا تاييد شي.

٥،٦،٢،١٣ د روغتيايي معلوماتو سيستم مديريت به ربعوار راپور شريک کوي.

٥،٦،٢،١٤ د روغتيايي مرکزونو جوړول، رغول، پراختيا او روغتيايي چوپړتياوو وړاندې کول د عامې روغتيا وزارت له همغږې او اجازه پرته نشي ترسره کيداى.

## ۵,۷ د مالي تمویلونکو او کاري شریکانو ښکیلتیا ساحه:

### ۵,۷,۱ موخه:

د همغږۍ او ملاتړ شفافې پروسې له لارې د تمویلونکو، ملي او نړیوالو شریکانو مرستې ته وده او داډ ترلاسه کول ترڅو د افغانستان ټولنې ته د دیني اصولو او ښو دودونو سره سم د هیواد په روغتیایي سیستم کې په اغیزمنه او ګټوره توګه معیاری خدمتونه وړاندې شي.

### ۵,۷,۲ بنسټیزې کړنې:

۵,۷,۲,۱ عامې روغتیا وزارت به په فعاله توګه د سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو سره همکاري کوي ترڅو د روغتیا په برخه کې د نړیوالو غوره تجربو او کړنو څخه ګټه پورته کړي.

۵,۷,۲,۲ د هیواد روغتیایي سیستم د اړتیاوو او لمړیتوبونو پر بنسټ روغتیایي پروژو او برنامو ته وده او پلی کول.

۵,۷,۲,۳ د پروژو او برنامو په جوړولو کې د روغتیایي شریکانو، ملي او اماراتي بنسټونو را ګډول، د برابرۍ او عدالت اصول په پام کې نیولو سره اړتیاوو ته ځواب ویل.

۵,۷,۲,٤ ملي او نړیوال کومک کوونکي او شریکان به د خپلو اجراتو له رونتیا څخه ډاډ ولرۍ، ټولنې، ملي او نړیوالو بنسټونو ته ځواب ورکوونکي وي.

۵,۷,۲,۵ په ملی کچه د روغتیایي سیستم پیاوړتیا او همغږۍ لپاره کار وشي.

۵,۷,۲,٦ د پروژو په جوړښت، پراختیا او پلي کولو کې د عامې روغتیا وزارت لومړیتوبونو، ټولنې دودونو او دیني عقایدو ته درناوي او پام وشي.

۵,۷,۲,۷ ملي او نړیوالو شریکانو سره د پروژو او برنامو، څارنو او ارزونو پروسو په پلی کولو کې پوره ملاتړ وشي ترڅو د ښه والی لپاره اړین ګامونه واخیستل شي.

۵,۷,۲,۸ د نوښتونو لپاره د شرایطو برابرول او نتایجو شریکول ترڅو د روغتیایي سیستم د لا ښه والی سبب و ګرځي،

۵,۷,۲,۹ هغه بهرني کسان چې د روغتیایي سکتور په مختلفو برخو کې په دندو ګمارل کیږي په اړه یې موافقه او اجازه د عامې روغتیا وزارت څخه اخیستل اړین دي.

۵,۷,۲,۱۰ په نړیوالو روغتیایي کنفرانسونو، غونډو او مجالسو کې د افغانستان د روغتیایي برخې نمایندګی خپله د عامی روغتیا وزارت کوی البته نړیوال همکاران د خپل صلاحیت په محدوده کې د وضیعت شرحه د وزارت له همغږۍ څخه وروسته کولای شي.

۵,۷,۲,۱۱ د روغتیایي خدمتونو نوي روغتیایي قدمې، پروژې، طرحې او ماډلونه چې د عامې روغتیا وزارت د پالیسی سره سمون نه لری باید تطبیق نه شي.

۵,۷,۲,۱۲ د نړیوالو همکارانو، ملګرو ملتونو او غیرې دولتي موسسو د فعالیتونو نظارت، حساب ورکونه، رونتیا او روغتیایی فعالیتونو د کیفیت او موثریت په اړه به په بیلابیلو سطحو د همغږې میکانیزمونه جوړ او د روغتیا د برخو تقسیم او پراګندګي څخه به مخنیوی وشي.

۵,۷,۲,۱۳ غیر دولتی موسسات او نړیوال همکاران به د اسلامي امارت د موسساتو د طرزالعمل مطابق کارونه تنظیموي،

۵,۷,۲,۱٤ د روغتیا په برخه کې د ملګرو ملتونو مختلف سازمانونه به د خپلې کاري ساحې پر بنسټ د روغتیا په برخه کې ښکیل وي.

۵,۷,۲,۱۵ په ملي کچه بهرني موسسي او ملګري ملتونو ځانګو لخوا دی د هر ډول روغتیایي ارقام، معلومات، څیړنې، تحلیل، احصائیه او راپوړونه د عامې روغتیا وزارت له اجازې پرته خپاره نکړي.

۵,۷,۲,۱٦ د عامې روغتیا وزارت د ټولنې د روغتیا د ښه والی لپاره د نورو کاري او سکتوري ادارو سره په ګډه کار وکړي.

**نوټ:** د دغې پالیسی ۷ برخه که دغیر دولتی موسساتو (NGOs) فعالیتونود طرزالعمل ( د افغانستان اسلامي امارت له خوا جوړ او منظور شوی رسمی سند) سره په مخالفت کې وي د اجرا وړ نده البته د مخالفت په صورت کې ترجیح د ذکر شوي طرزالعمل محتوا ته ورکول کیږي.

## ٦ ځارنه، ارزونه او بیاکتنه:

### ٦,١ د ځارنې او ارزونې کړنې:

د عامې روغتيا وزارت لخوا ملي او نړیوالو کاري شریکانو په ملتیا به د ځارنې او ارزونې کړنې ترسره شي، چې پدې کې به د مداخلو اړوند اغیزمنتوب، ګټورتوب او خوبندیتوب پایښت ارزونه وشي او موخه به يې د روغتيا ملي پالیسي ۱۴۴۶ - ۱۴۵۱ او د روغتيا ملي ستراتیژۍ ۱۴۴۷ - ۱۴۵۱ کال کې هدفونه ترلاسه کول وي.

## ٧ پلي کېدنه:

۱۴۴۶-۱۴۵۱ د روغتيا ملي پالیسي پلي کول به د روغتيا ملی ستراتیژۍ ۱۴۴۷ - ۱۴۵۱ هـ ق کال او د عامې روغتيا وزارت کاري پلانونو کې نور هم تعریف شی. پورتنی سندونه به د افغانستان اسلامي امارت، بهرنیو حکومتونو او نړیوالو پراختیایي شریکانو تر منځ د همکاریو تړونونو د پراختیا لپاره وکارول شي او دغه تړونونه به د بهرنیو چارو، مالیې او عامې روغتيا وزارتونو لخوا طرحه شي.

### ٧,١ د عامې روغتيا وزارت کلنۍ سروې:

هر کال د ملي او نړیوالو همکارانو په ملتیا به کلنۍ سروې ترسره کیږی او بیاکتنه به د روغتيا ملي پالیسي او ستراتیژي موخو ترلاسه کولو عمومي پرمختګ باندې تمرکز وکړي.

په پام کې ده چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د پالیسي د پلی کولو په اړه یوه لنډ مهاله بیا کتنه وشي د دې بیا کتنې موخه به ۱۴۴۶ تر ۱۴۵۱ کال پورې د اوسني واقعیتونو سره د روغتیا ملي پالیسي تطبیق وي.

عامې روغتيا وزارت به په هرو پنځو کلونو کې یو ځل د پالیسي بیا کتنه تر سره کوي، چې د افغانستان روغتیايي سیستم پر پرمختګونو او اصلی ننګونو تمرکز وشي.

منظوري

مولوی نورجلال جلالی
د عامې روغتيا وزارت وزیر

## ملپاڼې:

### اصطلاحات

١. پایښت لرونکي پراختیا موخې(Sustainable Development Goal): د ملګرو ملتونو د ۲۰۱۵ کال د پاریس کنفرانس وروسته ۱۷ نړیوالې موخې چې د ۲۰۳۰ کال پورې باید پوره شي. دا موخې په بېلا بېلو برخو لکه فقر، لوږه، روغتیا، تعلیم، او چاپېریال کې پرمختګ هڅوي.

٢. پایښت لرونکي پرمختیایي دویمه موخه (SDG2): لوږه له منځه وړل، د خوړو خوندیتوب، او سمې تغذیې ته لاسرسی او پایښت لرونکې کرهڼې ته وده ورکول.

٣. :پایښت لرونکي پرمختیایي دریمه (SDG3): روغ ژوند تضمین او په هر عمر کې د ټولو لپاره هوساینې ته وده ورکول.

٤. عامه روغتیا پوښښ (Universal Health Coverage): د ټولو خلکو لپاره د مناسب او اړینو روغتیایي خدمتونو وړاندیز چې د مالي ستونزو پرته دې خدمتونو ته لاسرسی ولري.

٥. عامه او خصوصي مشارکت (Public Private Partnership): د حکومت او خصوصي سکتور ترمنځ همکاري چې په کې د عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ګډې پانګونې او منابعو څخه ګټه اخیستل کیږي.

٦. عدالت ( **Equity**): د عدل، انصاف او بې پرېتوب کیفیت ته اشاره کوي. دا هغه اصول دي چې ټول خلک په برابرۍ، عدل او انصاف سره چلند کوي، او داډ ترلاسه کوي چې هر چا ته ورته حقوق، فرصتونه او منابع ورکول کېږي.

٧. برېښنایي حکومتولۍ (e-Governance): برېښنایي حکومتولۍ د ټکنالوژۍ په مرسته د حکومتي خدمتونو وړاندې کول، همغږي او څارنه، چې خلکو ته د آنلاین خدمتونو او معلوماتو په شکل کې اسانتیاوې.

٨. مسئولانه مدیریت (Stewardship) : د منابعو او خدمتونو اغېزمن او شفاف مدیریت چې د خلکو د ګټو لپاره ترسره کیږي.

٩. لګښتونو ونډې (Cost Sharing): د روغتیايي خدمتونو د لګښتونو یو ډول وېش چې په کې د دولت، بیمه، او مراجعینو ترمنځ لګښتونه شریک کیږي.

١٠. دولتي مرستې (Subsidy): هغه مالي مرسته چې حکومت یې د یوې ځانګړې برخې، خدمت، یا ډلې د ملاتړ لپاره ورکوي.

١١. فرعي روغتیايي خدمتونو (Vertical Projects): ځانګړې روغتیايي پروژې دي چې په مشخصو برخو لکه واکسین، د ساري ناروغیو کنټرول، تغذیې او داسې نورو پورې اړه لري چې د HER پروژې سره په حمایوي شکل خدمتونه په مخ وړي.

١٢. لومړنی روغتیايي چوپړتیاوې (Primary Health Care): لومړنې روغتیايي خدمتونو دي چې د ابتدایي درملنې په موخه د ټولنې د هر وګړي لپاره په لاسرسي کې.

١٣. دریمې کچې یا ثالثي روغتیايي خدمتونو (Tertiary Health Care): ځانګړې روغتیايي خدمتونه چې د پیچلو ناروغیو درملنو لپاره په لوړه تخصصي کچه وړاندې کیږي.

١٤. اعتبار ورکول (Accreditation): د روغتیايي ادارو او خدمتونو له تصدیق څخه عبارت ده چې معیارونه یې پوره کړي وي او د یوه رسمي یا اړونده اداري لخوا تایید شي.

١٥. روغتیايي چوپړتیاوو وړاندې کولو تطبیق لارې (Implementation Modality): په روغتیا سکتور کې **Implementation Modality**یا د پلي کولو لارې هغه تګلاره یا ستراتیژي ده چې د روغتیايي خدمتوونو یا مداخلې د مؤثره وړاندې کولو لپاره کارول کیږي. دا د روغتیا پروګرامونو، پالیسیو یا پروژو د تطبیق، مدیریت او څارنې څرنګوالی څرګندوي ترڅو مطلوبې روغتیا پایلې ترلاسه شي. د پلي کولو لارې د پروژې موخو، شرایطو، منابعو او شکیل اړخونو پراساس ټاکل کیږي.

۱۶. تغذي توکو (Super Cereal, RUTF, RUSF): د غذايي مواد ځانګړې ډولونه چې د ماشومانو یا لویانو د ځانګړو تغذيې او درملنې اړتیاو پوره کولو لپاره کارول کیږي.

۱۷. د خځلو مدیریت (Waste Management):د روغتیايي مرکزونو، روغتونونو او نورو روغتیا اړوند ځایونو کې د خځلو او خطرناکو موادو مدیریت کول.

۱۸. د چاپېریال اړونده ګواښونو (Hazards): هغه خطرونه یا ګواښونه چې کولی شي خلکو، ملکیت، یا چاپېریال ته زیان ورسوي یا د روغتیا لپاره د ضرر سبب شي. دا ممکنه دي چې طبیعي لکه زلزله، سیلابونه یا انسان جوړ کړو پیښو صنعتي پېښې، ککړتیا وي.

۱۹. د چاپېریال ککړتیا (Pollutions): هغه ککړونکي توکي چې چاپېریال ته ننوځي او هوا، اوبو، ځمکې او انسانانو ته زیان رسوي.

۲۰. د ناروغیو طغیانات (Outbreaks): هغه وضعیت چې د یوې ناروغۍ پراختیا او زیاتوالی په یوه ځانګړي جغرافیايي سیمه یا ټولنه کې په ناڅاپي ډول ډیرې یا طغیان کوي.

۲۱. طبیعي پېښو پر وړاندې مبارزې کمیټې (Disaster Management Committee): هغه کمیټه ده چې د طبیعي پیښو لکه زلزلو، سیلابونو، او نورو ناورینونو لپاره د بېړني تیارۍ او ځواب ورکولو لپاره مسؤوله ده.

۲۲. طبي اخلاقو (Medical Ethics): د طب او روغتیايي خدمتونو په برخه کې د اخلاقو او اخلاقي معیارونو مطالعه او عملي کول.

۲۳. د کتلوي معافیت(Expanded Program on Immunization): د روټین واکسیناسیون برنامه چې موخه يې د ماشومانو او میندو لپاره د ساري ناروغیو څخه د خوندي کولو په موخه د واکسینونو تطبیق دی.

۲۴. بریښنايي روغتیا (e-Health): په روغتیايي سکتور کې د بریښنايي روغتیا ټکنالوژۍ کارول ، لکه د الکترونیکي طبي ریکارډونو، آنلاین مشورې، او د روغتیايي خدمتونو آنلاین فضا کارول.

۲۵. لرې درملنې(Tele-Medicine): د ډاکټرانو یا روغتیايي کارپوهانو له خوا د ټکنالوژۍ په وسیله لرې ځایونو ته د طبي مشورو او درملنې ورکول.

۲۶. لویانو هوساینې او تسکین اړوند روغتیايي چوپړتیا(Geriatric & Palliative Care): هغه ځانګړې روغتیايي خدمتونه چې د لویانو لپاره د هوساینې، تسکین او د ژوند کیفیت لوړولو لپاره وړاندې کیږي.

۲۷. ساري ناروغیو کنټرول (Communicable Diseases Control): د هغه ناروغیو کنټرول او مخنیوی چې له یو فرد څخه بل ته انتقالیږي، لکه انفلوینزا، ټایفایډ، کرونا او نور.

۲۸. تودو سیمو هیرې شوې ناروغۍ(Neglected Tropical Diseases): هغه ناروغۍ چې په تودو سیمو کې خپرېږي او معمولاً له څارنې او درملنې څخه پاتې کیږي.

۲۹. د چاپېریالي روغتیا (Environmental Health): د چاپېریال پورې اړوند عوامل چې د انسانانو په روغتیا پورې تړاو لري، لکه هوا، اوبه، او د ککړتیا کنټرول.

۳۰. د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ چوپړتیاوې (Mental Health & Psychosocial Support Services): رواني او ټولنیز خدمتونه چې د خلکو د رواني ستونزو حلولو او د دوی د ټولنیز ژوند د ښه کولو لپاره ورکول کیږي.

۳۱. درملو د خوندیتوب څارنې او ارزونې بهیر (Pharmacovigilance): د درملو د امنیت څارنه چې هدف يې د درملو اړخیزو اغیزو او خطرونو څخه خبرداری ورکول دي.

۳۲. انټي مايكروبيل مقاومت(Anti-Microbial Resistance): د هغو درملو پر وړاندې د مایکروبونو مقاومت چې یو وخت پې میکروبونه وژل او یا یې د هغوی وده دروله. دا مقاومت هغه وخت رامنځته کېږي کله چې مایکروبونو د یو درمل پر وړاندې پرمختک کوي او داسې میکانيزمونه جوړوي چې د هغو د وژلو یا وده ورکولو لپاره ډیزاین شوي درملو ته مقاومت کوي.
۳۳. انټي بیوتیک مدیریت پروګرام (Antimicrobial Stewardship Program): د انټي بیوتیک د اړوندو درملو سم کارول.
۳٤. بریښنایي طبي ریکارډ (Electronic Medical Record): د ناروغی ټول معلومات او تاریخچې په ډیجیټلي فارمټ کې ثبت کول چې د روغتیایي ادارو په سیستم کې ساتل کیږي.
۳۵. اخلاقیاتو بورډ (Institutional Review Board): هغه کمیټه چې د څېړنو او درملنو د اخلاقي معیارونو څارنه او د تطبیق په اړه پریکړې کوي.
۳٦. روږدیتوب (Addiction): په یوه چلند یا روږدونکو توکو د شخص د روږدي کېدو حالت.
۳۷. نیاوغوښتنه (Advocacy): هغه هڅې چې د یوې ځانګړې موضوع یا پالیسۍ ملاتړ او ترویج لپاره کېږي.
۳۸. تضاعف (Duplication): د هڅو یا سرچینو غیر ضروري تکرار یا بیا کارونه.
۳۹. کورني شخصي لګښت (Out of Pocket): هغه لګښتونه دي چې خلک یې د روغتیایي خدماتو لپاره په مستقیم ډول له خپل جیب څخه ورکوي.
٤۰. لیږون(Refer): ناروغ د لاښو روغتیایي خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه لوړو روغتیایی قدمو یا متخصصینو ته د لیږلو څخه عبارت دي.
٤۱. خوارځواکي او کوچنی مغذي موادو کمښت(Malnutrition and Micro-nutrition Deficiency): هغه حالتونه چې د ناکافي یا غیر متوازنو خوړو له کبله رامنځته کېږي، لکه د ویټامینونو او منرالونو کمښت.
٤۲. حرفوی یا شغلي روغتیا (Occupational Health): د کارکوونکو د روغتیا، خوندیتوب او هوساینې په اړه یوه روغتیایي برخه ده.
٤۳. کاري ساحه (Mandate): یوه رسمي امر یا واک چې د ځانګړي کار یا نقش لپاره ورکول کېږي.
٤٤. منځنۍ طبی زدکړې Para-medical education: دا هغه تعلیم دی چې د روغتیا مسلکي کسان تربیه کوي چې ډاکټران نه دي خو د روغتیا په سیستم کې مهم رول لوبوي. د منځنیو طبي کارکوونکو تخصصي مهارتونه لري چې د ډاکټرانو، نرسانو او نورو روغتیایي کارکوونکو سره د ناروغانو د تشخیص، درملنې او مدیریت کې مرسته کوي. (د ایکس رې تکنیشن، د طبي لابراتور  تکننیشن، فیزیوتراپي، نرسنګ، قابلګي د فارمسي تکنیشن، د انستیزی تکنیشن، د غاښونو تکنیشن او داسې نور).

**مأخذونه:**

١ NSIA, Estimated Population of Afghanistan 2024-25, pg.3.

٢ UNDP, Human Development Report2022-23, pg.182.

٣ NSIA, Statistical Yearbook 2023-24, pg.24.

۴ https://www.unicef.org/afghanistan/health#:~:text=This%20affects%20their%20ability%20to,638%20per%20100%2C000%20live%20births.

۵ Afghan Health Survey (AHS), 2018, pg.94.

۶ NSIA, Statistical Yearbook 2023-24, pg.7.

٧ Afghan Health Survey (AHS), 2018, pg.95.

٨ Human Resource for Health (HRH), Situational Assessment in Afghanistan 2024, pg.45.

٩ HMIS, MOPH, 2023.

١٠ NSIA, Statistical Yearbook 2023-24, pg.161.

١١ Human Resource for Health (HRH), Situational Assessment in Afghanistan 2024, pg.29.

١٢ National Health Account (NHA), 2022, pg.1.

١٣ National Health Account (NHA), 2022, pg.10.

١۴ National Health Account (NHA), 2022, pg.16.